# فتاویٰ یعقوبیہ

تألیف

ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر

شیخ الحدیث والتفسیر

## مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ نوری کاریزی

## مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ کوئٹہ




# Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ و دعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

# فتاوٰی

# یعقوبیہ

## جلد (۳)

تألیف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر




قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ
کانسی روڈ۔ کوئٹہ

# تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاتہ الجاری بانی و مدیر جامعہ ام القراء چمن .

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آلہ و صحبہ و کل من اھتدیٰ بھدیہ المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لا خینا فی اللہ الشیخ الفقیہہ المفتي النبیہ الشیخ عبدالرازق زید مجدہ المدیر باالمدرسة المحمدیة فی کویتہ و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاھم آشغالی و تفاقم ھمومی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منھا عثرت علی تفوقھہ و عموم و قوفھہ فی آنحا العلوم من درایة الحدیث وروایة و من ناحیة الفقہ الحنفی دقا وجلا و سن ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیہ ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السھلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جھودہ و مساعیہ فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفھا قبلھا و وفقہ لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوھا و یستفیدوا منھاخذما نظرت ودع شیئا سمعت بہ . فی طلعة الشمس مایغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

# تقريظ

شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوالاباب وصلوات ربی و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چي ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چي پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چي د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص دا وویل چي صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چي ډیری داسې جدیده مسائل پکښې سته چي متقد مینونه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کې سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

# تقریظ

## شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینکل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی باکستان .

الحمد للہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الھدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعی من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہو کر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوراردوزبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات اور تراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود ببوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالی اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

# فهرست

# فتاوٰی

# یعقوبیہ

## جلد (۳)

تألیف :

ذو المجد الفاخر و العلم الذاخر و الفهم الباهر




قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ
کانسی روڈ۔ کوئٹہ

## دکتاب لنډه پېژند ګلوي

*******************

دکتاب نوم: **جلد (۳)**

مؤلف: مفتي عبدُالرّازق کدنوي

کمپوزر: راز محمّد راز،مرکز کتابت کوټه

دخپرېدو کال: ۲۰۲۰ عیسوي

صفحات: (  )

## اجمالی فهرست

جزء احادیث التي وسمت بالضعف اولوضع فی سنن ابی داؤد
جزء احادیث التي وسمت بالضعف اولوضع فی جامع الترمذی
جزء احادیث التي وسمت بالضعف اولوضع فی سنن نسائی وابن ماجة
دوحي او سيرت احاديث .

# اسلامي فلسفه

## شرعي احکام او دهغو فلسفه

### د اوداسه حکم او پاکۍ مرتبې لري

لومړي له پليتو او ناپاکو څخه د ظاهري وجود پاکوالی دوهم د خدای (ج) د نافرمانيو او ګناهونو د خپلو اندامو ساتل دريم د بدو او ناوړو اخلاقو څخه د خپل زړه پاکوالی حفاظت او ساتل څلورم د خدای (ج) له مبارک ذات څخه د نورو شيانو د زړه پاکوالی او خالي کول.

دا ښکاره او منلې خبره ده چې ترڅو چې انسان دباطلو او ناوړو عقائدو څخه خپل زړه پاک او صاف نه کړي نو دی نبوي احاديثو مصداق لکه چې فرمائي پاکي د ايمان جز دی او نيمائی ايمان دی نه شي کرځيدلی او دا ځکه چې ايمان د زړه سره تعلق او ارتباط لري تر څو چې زړه د خبائثو او رزائلو څخه پاک نه شي نو دې ته پوره او کامل پاکوالی نه شي ويل کيدای او نه د پوره پاکوالي مرتبې ته رسيدلی شي ځکه دا خو دايمان مقامات دي چې هر مقام ځانته يوه طبقه ده نو کله چې څوک د نوموړو مقاماتو دټيټې او ادنیٰ څخه تير نه شي اعلیٰ او جګي مرتبې ته نه شي رسيدلی نو هر هغه څوک چې خپل زړه دبدو رزيلو اخلاقو څخه پاک او صاف نه کړی او په ښه او محمود اخلاقو کې منور او ښائسته د اوداسه او طهارت حکمو اسرارو ته مواصل نه

شي دغه راز تر څو چي خپل اعضاء او اندامونه دګناهونو او سر کشو او تولو نامشروعو کارونو څخه پاک نه کړي او په طاعاتو او عباداتو پټ او آباد نه کړي د طهارت او پاکوالي بلي مرتبې ته نه شي رسيدلی هو هغه څوک چي خپل ګران او او قيمتي وختونه په استنجا دمخ او لاسونو او پښو په مينځلو او دښو او ښائسته جامو په اغوستلو او جاري اوبو په استعمالولو پاکوي او د پټي باطني صفائی او پاکوالي کوم خيال او فکر نه لري نو ويلای سو چي دا سړی خا مخاد شيطان په وسوسه او مايخوليا په مرض اخته او مبتلادی او دا ځکه چي ظاهری پاکوالی يواځي د باطني پاکوالي لپاره شوی دی .

نو له دې کبله ژر ويلای سو چي دمخ او لاسو او پښو مينځل ددې لپاره لازم شوي دي تر څو دزړه دناپاکيو څخه دپاکوالي خواته مائل او په حرکت ئی راولي ريښتنی او ثابت حقيقت دی چي زمُږ تول ظاهر ي اقوال افعال او حرکات زموږ په زړه پوري اغيزه او اثر اچوي يا په بل عبارت کومو شيانو چي زموږ په باطن کښي ځای نيولی دی ظاهري حرکات زموږ دهغي آئينه ده لاکن ددې مطلب دا نه دی چي ظاهري طهارت او پاکوالي ضروري نه دی بلکه مطلب دادی چي د ظاهري پاکي سره باطني پاکي هم ضروري او لازم دي .

## په الٰهي احکامو کښي د حکمو
## او اسرارو په تعداد او زيات والي کښي فلسفی او حکمت

دا منلې او ثابته خبره ده چي چي دلوی خدای ﴿ج﴾ په پيدا شوو ادويه کښي ډېر مصالح او اغراض سته او موجود دی همدغسي د پاک

خدای په اوامرو او احکامو کی هم متعدد اسرار او حکمتونه اینبودل سوی دی لکه چی دیو بوټی په بیخ او ډبره کی په سوونو او زرونو اوصاف او خواص موجود دی . حتیٰ چی په یوه دوا د ډیرو مرضونو د دفعه کولو د مخنیوی لپاره استعمالیږی نو په همدې بنا ویلای سو چی که د اوداسه لپاره هر څومره اسرار او حکمونه بیان سی دې کښی شک نسته ځ ټول پکښی موجود او موندل کیږی بلکه ځینی نور اسرار داسی هم سته چی زموږ له فکر نه پورته او لوړ وی نو موږ دلته هغه حکمونه چی زموږ فکر ورته رسیدی سی په لاندی ډول بیانوو:

## د اوداسه اول حکمت

اوس دانسان د ظاهری او باطنی ګناهونو په پریښودلو باندی خبروی او د غفلت له خوبه ئې بیداروی نو که چیرته لمونځ بې اوداسه هم رواسوی وای نو انسان به قسم قسم تکلیفونو او زحمتونو سره مخامخ سوی وای چی د هغې په اثر ئی حضور ئی لمنځه وتلای وای .

## د اوداسه دوهم حکمت

د طب له تجزئې له مخی دانسان په دننه جسم کی زهری مواد موجود وی چی نوموړی مواد د بدن د مساماتو څخه خارجیږی او د بدن په بنکاره ځایو باندی ځای نیسی .چی هغه د دانو او نورو رنګا رنګ مرزونو سبب ګرځی .نو د دغه اندامو په مینځلو سره ټوله ګندګی او زهری مواد له مینځه ځی .او انسان د دغو مهلکاتو څخه خلاسیږی او همدا رنګه د حرارت جوش ؤی په دننه جسم کښی وجود لری دې اندامونو په مینځولو سره له مینځه ځی . او بدن سالم پاته کیږی .

### د اوداسه دریم حکمت

حب حاصلول دی ځکه چې د ظاهری او باطنی پاکوالی نیت کول او پابندی د خدائی د محبوبیت پوره او کامل اثار دی لکه ثی خدائی ﴿ج﴾ فرمائیلی دی: هغه څوک چې د ظاهری او باطنی پاکوالی خاوندان دی هغه د خدائی په نزد ډیر محبوب دی او هغه خدای ﴿ج﴾ ډیر دوست کنی نو کوم اوصاف چې د هغې په واسطه انسان خدای ﴿ج﴾ ته نژدې او محبوبیږي نو لازم دي چې انسان هغه اوصاف په خپل ځان د خپل قدرت په اندازه هرو مرو پیدا کړي .

### د اوداسه څلورم حکمت

د بهیمیت په صفت باندي د ملکیت د صفت غالبول دي کله چې د طهارت او پاکوالی کیفیت په نفس کی محکم ځای ونسی نو په دغه سبب کښی د ملکې نور یو ښاخ یا شعبه ځای نیسي او ور ځ په ور ځ زیاتیږی چې تر څو په اخر کښی د بهیمیت تاریکی ضعیفه او بیخی له مینځه ځي'

### د اوداسه پنځم حکمت

د خوشحالي او روشني بیرته راکر ځیدل دی یعنی هغه روحانی نور او خوشحالی چې ګناهنو او مستیو په اثر اندامنو څخه بللی او سلب شوی وي د اوداسه په سبب دوهم ځل بیا به دغو اندامنو کښی ځای نیسي لکه چې هم دغه روحانی نور بیا په قیامت کښی د هم دغه اوداسه په غوړو کښی ظاهر لیدل کیږی لکه چې آنحضرت ﷺ فرمائي . کله چې زما امتیان د قیامت په ور ځ د حشر میدان ته ځی نو

د هـغـوي پـه مـخ لاسـو او پښـو كـې بـه د اوداسـه د اثـارو څـخـه داسـې روښـانتيـاء او تـجـلـي ښـكـاره كيـږي .چې خلك ورتـه حيرانيږي نو چې كـوم يـو لـه تـاسـو نـه غـواړي چـې زمـا او روښـانتيـا دى زياتـه سى نو پـه اوداسـه كـې دې زيـاد كـوشش وكړي هم دارنګه په بل حديث شريف كې راغـلـى دى يـو مسـلـمـان د جـنـت پـه ګيـنـه تـر هغه ځاى پورى ښايسته كيـږى چې د اوداسه اوبه ورتـه رسيدلي وي .

## د اوداسه شپږم حكمت

دعـقـل زيـاتـوالـى دى د پـاكـوالـى او د طهارت لـه قبلـه پـه طبيعت د عـقـل مـاده لـوړيـږي او عـقـل تـام مـكـمـل ګرځي .او هم دارنګـه د الٰهى حضور كامل والى هم پر راځي

## د اوداسه اووم حكمت

د مـلائـكـو نـژديـوالـې دى يعنـي انسـان تـه د ملائكـو سره د طهارتو پـاكـوالـى پـه اثـر نـژديـوالـې پيـدا كيـږي او د دې وړ او لائق ګرځي چې د خـداى ﴿ج﴾ پـه دربـار كـښـې شـرف هم ورتـه حـاصـل سـى ځـكـه چـې د طهارت په سبب انسان د شيطانانو څخه ليري كيـږي .

## د اوداسه اتم حكمت

كـلـه چـي د خـداى ﴿ج﴾ پـه شعائرو او احكامو كي پاكوالى سره دا خـليـدل يـو ضـروري شـئـى دي او ځـكه د خداى ﴿ج﴾ د لويو شعائرو او اثـارو څـخـه دي نـو لـه دې كـبـلـه پـه لمانځـه كـي لـه داخليلدو لپاره اودس ډير ضرورى او لازم دى لكه چي په آنحضرت ﷺ هم فرمائى د لمانځه كـونـجـى او كـلـى نـو لـه همدى كبله د شارع له خوا نه په مونږ باندي د

لمانځه لپاره اودس لازم او ضرور شميرل کيږي .

## د اوداسه نهم حکمت

کله چي لمونځ د شهنشاه دربارته خپل حال وړاندې کول دي او کله چي دشريعت د خپلو حاجاتو او يا احکامو د اوريد لپاره شاهي درباته ځي نو ټول هغه ادب تعظيمات چي په شاهي دربار کښي لازم دي په ځاي راوړي .

نو هر کله چي د مطلب د وړاندې کولو لپاره ژبه د احکامو اوريدلو لپاره غوږ ونه ضروري عوامل دي نو ځکه د خداى ﴿ج﴾ د دربار د حضور د پاره لاس خوله او پښي وينځل او د ښو جامو اغوستل مهم او ضرور ګڼل کيږي نو کله چي لمونځ د لوى خداى ﴿ج﴾ سره مناجات او پټ راز دي او د خداى ﴿ج﴾ په دربار کښي ئې حقيقي شهنشهاه دي ودريدل دي نو له دې وجې نه په دربار کښي چي حقيقي شهنشاه دي ودريدل دي نو له دي چي نه شارع داوداسه په کولو باندې د لمانځه د پاره مامور کړو .

## د اوداسه لسم حکمت

درئيسه اعضاؤ تقويه او محکم والى دى د تجربى له مخي ثابته شويده چي د لاس او پښو و مينځلو کښي او په مخ او سر باندې د اوبو اچولو شخه په نفس باندې د قوت او بيدارى لوى لوى تاثير پيدا کيږي او د بيهوشي او د غفلت له خوبه شخه ويښ او په ښنګ کيږي لکه چي دغه تجربه د لويوا وکړه ډاکټرانو له خوا تصديق اوريښتني مرتبي ته رسيدلي دي چي د همدې کبله ډاکټرانو د هغي خلقو لپاره چي په

هغوی باندی بیهو شی او یا د اسهال دستنو مرض راشی او یاز ږ و وهی
په دغه نوموړی اعضاء باندی او به اچول د علاج په توګه مقرر کړی دی
لکه چی علامه قریشی په خپل موجز کښی او همدار نګه نورو اطباو
هم دغسې لیکلی دی چی په خو له اولاس او پښو باندی اؤبه اچول د
انسان طبعی حرارت تازه او قوی کیږی او د بیهو شیو څخه چی د
غمونو یاد حمام په واسطه انسان ته پیش شوی وی پوره پائیده او ګټه
رسوی نو د همدغو ذکر شوؤ وجو هو په اثر الانسان مامور شویدي چی
د اوداسه په ذریعه د خپل نفس څخه سستی او درونډ والی لری کړی تر
څو چی د لوی خدای ﴿ج﴾ په حضور کښی د قیام او دریدلو وړ او لائق
شي او دا ځکه چی خدای ﴿ج﴾ په خپله ویښ او بیدار دي لکه چی
فرمای خدای پاک د پر کالی او خوب څخه پاک دی او نه ور باندی
پر کالی او خوب جاری کیږی او نه ئی نیولی سی نو له دې کبله سست
او کاهل بیهوشه او غافل سړی د د په حضور کښی د دریدو لائق نه دی
لکه چی له همدې وجی نه د مستۍ او نشې په وخت کی د لمانځه ادا
کولو څخه منعه راغلې ده لکه چی خدای ﴿ج﴾ فرمائی د مستی او
نشې په حالت کی لمانځه ته مه نژدې کیږئ او ځانونه ترې وژغورئ او
بل دا هم ده چی یو سړی د ظاهری بادشاه په حضور کښی ننوتل د نشې
او مستۍ په حالت کښی رواه نه دی .او نه څوک ور ته د ننوتلو اجازه
ور کولی شی نو د خدای ﴿ج﴾ په دربار کښی چی بې پر واه او حقیقی
بادشاه دی څنګه غافل او کاهل سړی ته د غفلت او سستي په حالت
کښی د ننوتولو اجازة ور کړي

## د اوداسه څخه وروسته د دعا ویلو حکمت او فلسفه.

ځنکه چی په اوداسه کښې د اووه اندامونو په پریمینځلو کښې د اووه ډوله ګناهنو پریښودلو ته اشاره ده او په عین حال کښې لوی خدای ﴿ج﴾ ته رجوع او ظاهری او باطنی پاکوالی او صفائی طلب او غوښتنه ده نو له دې عمله د اوداسه وروسته داسی دعا ته ضرورت سته تر څو د توبې په ژبه د خدای ﴿ج﴾ رحمت ځان ته را جلب کړی نو په هم دغه لحاظ آنحضرت ﷺ پر موږ باندی د شفقت او مهربانی له مخه داسی دعا لازمه کړه چی تر څو زموږ لپاره د توبې بخشش او د خدای ﴿ج﴾ د مهربانی موجب شي .چی نوموړې دعا آنحضرت ﷺ داسی مهربانی کړې ده:اللهم اجعلنی من التوابین و اجعلنی من المتطهرین و اجلعنی من عبادک الصاحلین .

## د هغه پوښتنی جواب چی د مخالفینو لخوا د اوداسه په ترتیب باندی واریدیږی او په نا معقولیت ئی حکم کړی دي.

موږ دهغو مخالفینو په جواب کي چي د اوداسه په تر تیب کي دنامعقولیت حکم کوي داسي وایو چي نوموړی ترتیب بیخي معقول او په نا معقولیت باندي حکم کول محض تعنت او عناد دی دا ځکه چي کوم اندامونه چي د ګناه لومړ منشا اا و سبب ګرځي شارع هم د هغې نه منځلو حکم کړی دی او دکوم ګناهونو موجب دي دهغې مینځل یې آخر لازم کړي دي نو له سې ترتیبه دعقل سره موافق تر تیب څنګه دی؟

مثلاً شارع د ټولو نه اول دمخ پر مینځلو امر کړی دی چي په هغه کښي خوله پزه او سر شامل دی چي دګناهونو لومړی اسباب او وسائل دي لکه چي په حديث شريف کي هم راغلي دي چي سړی اول له خوبه راپورته کيږي نو ټول اندامونه خولي او ژبی ته چي په مخ کي واقع دي عجز کوي او په ناری سره ورته وائي چي د خدای په لاره کي سم وي مونږ هم سم يو او که تاسو د خدای (ج) دلاری نه کاږه سئ نو مونږ هم دغسي کاږه او په خرابه لاره باندي روان يو نو زمونږ په حق کي د خدای نه وويريږئ .

دغسي په يو بل حديث کي هم راغلي دي چي د آدم د زامنو ټولي ګناهوي په ژبه کي دي يعني د ژبی نه صادريږي او دائي پوره مصدر دی مثلاً دکفر الفاظ غيبت بهتان بنکنځل او دروغ ويل ټول د ژبي په واسطه ظاهريږي نو په خوله کښی اول اوبه اچول دوی څخه نمايندګی کوی چي خپله خوله او آواز د نامشروعو کارونو څخه وساتي او هم دارنګه د پزي او سترګو په مينځلو کښی دپزي او سترګو دګناهونو څخه منعه کولو ته پوز . او کامله اشاره سوې ده او دسر په مسح کولو کښي د کبر او غرور څخه ځان ساتلو ته اشاره ده او دلاسونو په مينځلو کي دهغو ګناهو څخه منع او نه کولو ته اشاره ده چي په لاسونو پوري اړه لري .

**څه سِر او حکمت دی چي د مني په وتلو**

**سره غُسل لازيږي او د انساني حاجاتو بيا غُسل نسته**

﴿۱﴾ کله چې مني د ټول بدن څخه راووزي او کله چې د چا دبدن څخه راوزي او د تناسل د عضوې څخه دشا د لورې راوځي په هم دغه سبب بند بند ته ضعف او کمزوري پیدا کیږي نو په دې چې مني د ټول بند څخه چړیږي دغه آیت کریمه پوره شهادت ورکوي: وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِن طِین . چې سلالۂ دهمدغه چاڼ او حاصل معنیٰ ورکوي یعنې مني د ټول بدن نه چاڼیږي دانساني حاجاتو خلاف چې هغه بیا دټول بدن څخه راوزي نو ځکه د انساني حاجاتو په سبب باندې د اسلام دین په غسل کولو امرونه کړي دي او دمنی د وتلو په وجه ئې د غسل کول لازم وګڼل تر څو چې د غسل په کولو هغه ټولې کمزورئ چې دمني دوتلو په اثر دبدن ټولو غړو ته پیدا شوي دي له مینځه لاړي شي او بدن سالم او قوي پاته شي .

﴿۲﴾ کله چې د جنابت په اثر د انسان په وجود کښې کهالت او سستي غفلت او بې پروائي پیدا کیږي او دغل په کولو سره په زړه زور او قوت، فرحت او خوشحالی پیدا کیږي او همدا رنګې په بدن کې سپک والی او کلک والی او مزي والی پیدا کیږي چې ددغو شیانو د تحقیق او ثبوت لپاره د ابو ذر غِفاريؓ وینا پوره شاهد دی چې نوموړي صحابي وائي چې نه دجنابت دغسل نه وروسته داسې حس کوم لکه چې زما په وجود یو لوی غر پروت وو او راڅخه لیرې شو . دا مثلې خبره چې چې کوم انسان د روغ صحت طبیعت او صحیح فطرت خاوندوي او ددیرې ستومانۍ څخه وروسته غسل کوي او بیا په مزل شروع وکړي نو پخوانۍ ټولې ستړ تیاوې ئې د مینځه ځي او

داسي معلوميږي چي بيخي مخ کي ستړی او ستومانه نه وو . په همدې سبب شارع د جنابت نه وروسته د غسل کولو امر وکړو .

﴿۳﴾ دجابت په اثر مسلمان لره د پاکو ارواحو څخه چي ملائيکي دي لره ليری والی پيدا کوي او دغسل په واسطه بيا هغه بعد او ليري والی ورک او پناه کيږي او دقرب او نيږدی والي مرتبې ته بيرته واصليږي لکه چي دډيرو صحابهؤ څخه دغه خبره نقل شوې ده چي هر کله انسان بيده سي نو روح ئې پورته ځي چي تر څو دعرش لاندي د سجدې سر ولګوي نو که نوموړی روح پاک وي د خدای ﴿ج﴾ له پلوه ورته اذن او اجازه کيږي او که پاک نه دي نو بيا ورته دسجدې کولو اجازه نه ورکول کيږي ،او په ډير افسوس سره بيرته راګنبته کيږي .

﴿۴﴾ ډيرو پوهو او کره اطباؤ لکيلي دي چي دجماع کولو په وخت کي دغسل کولو په اثر هغه کمزوري او ضعفتيا وي چي دجماع په اثر بدن ته پيدا شوي وي له مينځه ځي او بدن ته قوت پيدا کيږي،نو له دې کبله په جنابت ګرځېدل په بدن کښي ډول ډول مرضونه پيدا کوي د بدن دډيري کمزورۍ باعث ګرځي،او دانساني حاجاتو په سبب د غسل لازمول انسان د ډيرو تکليفو نو سره مخامخ کوي او تکليف خو دحکمت نه خلاف دی نو ځکه دانساني حاجاتو په سبب دغسل کولو امر ونه وسوه .

﴿۵﴾ کله چي جماع کی انسان ته خوند او لذت پيدا کيږي چي په دغه سبب دخدای ﴿ج﴾ دذکر نه غافله کيږي او په غسل سره ددغه غفلت تلافی کيږي نو له دې کبله دغسل په کولو مامور سوي يو .

﴿٦﴾ دمنـي دوتـلـو پـه سبب دبدن تهول سوري خلاصيږي او د نوموړو سوريو څخه خوله راوزي او دخولو سره يو ځای هغه پليتي او مرداري چي په دننه بدن کي ستنه هم او ددغه سوريو په سر کي جمعه کيږي نو که چيري ونه مينځل سي نو مهلک او خطرناک مرضونه تري پيدا کيږي نو له دې کبله غسل پر موږ لازم سو .

**د عباداتو دپاره د خصوصي وختونو سِر اوحکمتونه**

﴿١﴾ ځنکه چي په انسانانو باندي داوقاتو دتغير او حالاتو دتبديل څخه جسماني تبدلات مشاهده او ليدل کيږي او همدا رنګه د اوقاتو په تغير سره په روح باندي هم تغيرات او تبدلات عارضيږي نو ځکه داوقاتو دتغير او تبدل اثر پر روح او بدن دواړو باندي واقع کيږي چي کله دغه نوموړي تاثرات په روح کښي په مقرره توګه راځي نو له دې کبله څښتن تعالیٰ ﴿ج﴾ دخپل کامل حکمت په مقتضیٰ په مؤ باندي په يوه ورځ باندي پنځه لمونځونه واجب کړي او مقرر کړي دي .چي ترڅو پـه دغـه تـوګـه دانسان د جسم پـه صحت او روغ والي او صفائي کي څه اغيزه پيدا کړي .او کله کله چي روح او جسم باندي نوموړي په يوه هفته کي راځي چي دجمعې د لمانځه دوخت مقررولو په اثر هغه نواقص له مينځه ځي .

﴿٢﴾ کله چي دخلکو اعمال په دو شنبه او پنج شنبه د خدای ﴿ج﴾ حضور او دربار ته غرض او وړاندي کيږي لکه چي دغه قول په احاديثو کي په مفصله توګه ذکر او بيان سوی دی او همدا رنګه قرآن عظيم الشان په رمضان کي نازل شوی دی چي په دغو ټولو کښي د

بعضي اثقاتو فضیلت او خصوصیت ته په بعضو باندي اشاره سوې ده .

﴿۳﴾ لکه چي دانساني جسم دماتقدم حفظ لپاره په مناسبو نو وختونو کي قسم قسم دواګاني او داسي نور شیان چي په دنیا کي موجود دي استعمالیږي هم دارنګه د روحانیت د حفظ او ساتنی لپاره د لوی خدای ﴿ج﴾ مقرر شوي احکام په مناسبو وختونو کي مقرر او او معین سوي دي چي تر څو دروحانیت او جسمانیت د حفظ او ساتني په لاره کي پوره او کامل توان موجود کړی سي .

﴿۴﴾ که دعباداتو لپاره مخصوص وختونه مقرر سوي نه وای نو زیاتو خلکو به په لږ لمنځ او روژې د ډیر ګمان کاوه چي په دغه توګه به دخلکو ددغو شیانو اهمیت ته هیڅ فکر سوی نه وای، او نه به یو بل ته د زجر او سر زنش کولو موقع پیدا کړې وای،

﴿۵﴾ د دې لپاره چي انسان دلمانځه دوخت نه مخ کي دلمنځه انتظار وباسي او ځان ورته مخ کي تیار او اماده کوي او دغفلت څخه ویښ او بیداره سي چي ترڅو دډیرو اجرونو او ثوابونو سبب او موجب وګرځي لکه چي په حدیث کي آنحضرت ﷺ د انتظار تشبیه درباط سره ورکړې ده . نو ددغو مهمو امورو په لحاظ څښتن تعالیٰ ﴿ج﴾ دخپل کامل حکمت په مقتضا دزماني دهري محدودي حصې نه وروسته د لمانځه دپابندي لپاره دوختونو په ټاکلو حکم ورکړ .

﴿٦﴾ دلمانځه دپنځو وختونو په ثبوت کي دې ته اشاره ده چي هر کار باید په خپل وخت کي وشي او بل وخت ته پاته نه سي انساني طبائع په دې عادي سي چي څو ټول په ښه او اعلیٰ توګه تر سره سي او

اجراء سي او کـه داسـي نـه واى نـو ټـولـي ځـمکي، کارخانې سلطنت او داسـي نـور انتـظامـي امـور بـه تباه او برباد سوي واى دنن کار سبا ته نه پرېږده .

## کعبې ته د مخ کولو حکمت

﴿۱﴾ کـله چې د پخوانۍ زمانې راپدې خوا په خلګو کي دا عـادت او طـريقه جاري ده چې د کوم بادشا يا امير صفت او مدحه بيانيږي اول د نـومـوړي پـه مخ کي ودريږي او بيا د هغـه پـه ثناه او مدحه ځان بوخت او مشـغـولوي نو په هم دغه ملحوظ پـه لمانځه کښ د دغو امورو مراعات سوي دي .او دا ځکـه چـې تـواضـع او عـاجزي د عبـادت روح دی .بېلـه آرامـي او سـکـون او د نـظـر د پـريښـودنه حاصليدی نه سي او سکون او نـظـر پـرېښـودل خـو هـلتـه راتلی سي چې د عابد پـه خپـل ځان باندي يو مـعـلـوم ځای ته نظر او کتـل لازم کړي .او بېله دنيا امکان نه لري نو لـه دې کبلـه لـوی خدای﴿ج﴾ د خپـل حـکمت پـه مقتضاء پـه موږ باندي دا لازمـه کـړې چې پـه لمانځه کي يو خاص او معلوم طرف تـه مخ کړو چي هغـه د کعبې څخه مراد دی .

﴿۲﴾هـر ظـاهـر د باطن سره يو داسي تعلق لري کـه ظاهر يو جهتي اختيـار شـي د باطن د يو جهتي د پاره پـه مؤيد شي نو لـه دې کبله کعبې تـه مخ کول لازم وشمېرل سو چې تر څو دواړه ظاهر او باطن يو طرف تـه متوجه او مخامخ سي .

﴿۳﴾هر کله د باطنی عباداتو د انوارو او برکاتو د حاصلولو لپاره ټـول حـاضر او باطن دواړه متفق سي نو د زړه په صفائي او رڼائي کښی

پوره اثر پیدا کوي نو له دې کبله دا لازمه ده چې د ټولو خلکو لپاره قبله یو معین او ټاکلی ځای مقرر وګرځي چې تر څو ظاهري اتفاق د باطني لپاره مؤید سي او دا ځکه که ډیري ډیوې په یو ځای کې یو ځاي ولګول سي نو د هغې څخه یوه یوه روشنائی منځ ته راځي لکه چې د اجتماع او جماعتونو په جواز او مشروعیت کښې هم همدا فلسفه ده نو لکه څنګه چې په جماعت کې د یوې محلې د خلکو د اتفاق او اتحاد موقع حاصلیږي نو یو د بل په همدردی او یو د بل دحال احوال د خبرېدو او یو د بل د مصالحو او منافعو فکر او تدبیر حاصلیږي او په جمعه کی اجتماع د یو ښار او کلي د اتفاق او اتحاد نمونه ده او په حج کی د ټول عالم اسلام په اجتماع کي هم د مسلمانانو د کلي احوالو خبرېدو ته پوره اشاره ده او دا ځکه چې تمام عالم اسلام جمعه وار خو په یو ځای کی په هر وخت کي مشکل او سخت تمامېده نو له دې کبله د ټولو مسلمانانو د اتفاق او دیووالي لپاره شارع یو معلوم ځای په ټاکلي وخت کي مقرر کړ چې هغه د قبلې څخه عبارت دی. پدې کي شک نسته چې د هغه ذات لپاره چې د یو داسی عبادت لارښوونکی او رهنما دي چې د ټولي دنیا د عبادت د متعارفو طریقو سره بیخي مخالف دي په داسی وخت کي چې مخلوق پرستی او شرک یو لوی رکن بلل کېده د خپل ښول سوي عبادت د طریقې لپاره یو واضحه او ممتازه لاره قائمول بیخي لازم او ضرورۍ نو له دې کبله ئی کوشش وکړ څو د لوی خدای ﴿ج﴾ څخه د داسي یوې طریقې غوښتنه وکړي نو هم هغهۀ چې په دې مؤفق شو چې د خدای ﴿ج﴾ په امر خپل امت ظاهر او داسی طرف

تـه وكـرځـوي چـي تـر څـو ددوى روحـانـى قـوت پـه تـحـريک راولـى او هم داسى ټول مسلمانان په دې يقين و كړى چى په مكه كي توحيد يو لوى تـعـمير كوونكى واعظ او د آخرى زمانې د اولاد يو داسى كامل پيغمبر چـى يو مكمل شريعت د هغه په لاس سره دنيا ته راځى د غسى جانب ته مخ كول او د ټولو تصوراتو د زړه او سترګو او نور اندامونو توجه ضرور او لازم وه نه بل جيهت نو له همدې وجهى مكه قبله وګرځېده .

## په جمعه سره د پنځو لمونځو نو فلسفه

﴿۱﴾ هر كله چې په شپه او ورځ كښي انسانانو ته ډېر مرضونه او مـصـيـبـتـونـه رسيږي نـو دهغې محلې خلك ديو بل د حاله دخبريدو دپاره د ډير تكليف سره مخامخ كيږي او دا ځكه چي هر څوک د خپل ژوند د احتياج دپوره كولو لپاره يو خوا بل خواته تللى وي چي ددوى د احوال پوښتنه بې له دينه چي هلته ورشي امكان نه لري چي دغه خبره خامخا د سختي او تكليف موجب ګرځي نو له دې كبله شارع په مسلمانانو باندي لمونځ فرض كړ .او دا كمال لپاره ئې جمعه لازم او ضروري شى وباله چي تر څو له يوه پلوه دهغه محلې خلك او مسلمانان په دغه وسيله سره راټول او ديو بل دحاله خبرشي او دبله پلوه كومه جګړه ددوى په مينځ كي پېښه سوي وي په دغه لاره كي يو دبل سره اوږه په اوږه د دريدو په سبب متفق او او هغه كوم حسد او كينه چي لسومړي جګړې په واسطه مينځ ته راغلې وه بيخي له مينځه ولاړه سي .

﴿۲﴾ كله چي شارع دلمانځه څخه وتل په سلام سره لازم كړى

دی او هم ئې ضروري ګڼلی دی چې باید سلام ګرځوونکی په زړه کې د خپل ښي او چپ خلګ ټول په ترتیب سره دښې او چپ طرف په سلام کښې شامل وګڼي چې دا هم داتفاق او اتحاد پوره وسیله ده

﴿۳﴾ دلمانځه کول په جمعه سره دجهاد صف پوره نمونه ده ځکه چې په دې کښې د امام په یوه الله اکبر په تېتېدلو کښې دې ته اشاره دی چې په جهاد کې هم باید ټول دیو امر ږغ ته منتظر او د طاعت څخه ئې سر ونه رغړوي .

﴿۴﴾ دا چې په احادیثو کښې د ذکر صفت راغلی دی نو په جماعت لمونځ کې هم یوه حلقه تشکلیږي نو په دغه سبب خلګو ته په عبادت کې شوق پیدا کیږي .

**دجعې او اختر و په لمونځو او حج کې دخلکو دټولېدو فلسفه**

لکه څنګه چې دپنځو وختو لمونځو په جمع کېدلو کښې د خلګو داحوال پرستی یوه پوره وسیله موجوده ده،هم دارنګه دجمعې او اخترونو دلمونځو په جمع کېدلو کښې داطرافو د خلګو دحال احوال دخبرېدو یوه کره او مهمله وظیفه شته او دحج په جمعواري کې ټول عالم اسلام دحال او احوال څخه خبرېږي او ددې لپاره چې دخلګو سره فاسد او باطل افعال او اعمال ورک شي او دښو او ښائسته افعالو او اعمالو په جامه ملبس سي په نوموړی لمونځونو کې د خطبې وجود راغلی دی بر سېره پر دې دغه نومړې جمعواري دجهاد یوه نمونه هم ده او داځکه لکه څنګه چې په جهاد کښې په کمو نژدې خلګو مدافعه کیږي نو په نورو باندې فرضیت نشته او که مدافعه نه کېده نو دهغه

ولايت او همداسي په تدريج سره د مدافعې دسخت والي اندازه ئې فرضيت دولايت نه تول مملكت ته هغې نه تول عالم اسلام افشار مومي .

## د كعبې په مخ كولو كښې د مخالفينو د اعتراض جواب

دا خو معلومه خبره ده چې غائب ته توجه كول طبعاً قوي او هميشه نه وي بلكه توجه او مخ كول حاضر او محسوس ته هميشه او قوى وي نو كه هر كله موږ خداى ته توجه او سجده كوؤ او خداى محسوس نه وى او د ستركو نه غائب وى نو ددې لپاره چې زموږ توجه خداى ته قوى پاته سي نويوې واسطې ته خامخا ضرورت پيښيږى چې هغه واسطه د هغه مبارك مقام څخه عبارت وي چې د خداى د كور نسبت ورته كيږى او دا ځكه وى هر عاشق لكه څنګه چې معشوقه محبوبه او دوسته ګڼي همدا رنګه ورته د معشوق كلى او كور هم ډير كره او محبوب وي او ترې چاپيره ګرځى او شاؤ خوا كښې نو له دې كبله كعبه د مسلمانانو لپاره د لوي خداى د ليدلو لويه او كره وسيله ده .

كله چې آنحضرت ﷺ په دغه برخه كښې مهرباني كوي او وائى چې :اذا قام احدكم الى الصلاة فلا يمسح الحصى فان الرحمة،توجه او همد غسي په بل حديث شريف كښې فرمائى لا يزال الله عزوجل مقبلاً على العبد و هو في صلاة مالم يلتفت فاذا التفت الحديث چې له دغي تولو څخه واضح معلوميږي چې كعبې ته زموږ مخ كول يوازى او خاص د خداى (ج) د قربت وسيله نه ګڼې لكه چې

مشـر كيـن خپل بتـا ن ګنې او دا ځکه چې دوی ګڼه او تاوان ټول د خدای لـه طرفه ګڼي او مشر کين بيا ګڼه او صرف له همدې بتا نو له خوا ګڼي نـو هـمـدا وجه ده چه موږ مسلمانان نذر او نياز د کعبې لپاره روانه ګڼو او دوی لـه خپـلـو بتانو لـپاره رواګڼي بر سيره پر دې مسلمانان د ترميم لپاره په کعبه باندې خيژي او دا کار کوم باک نه ګڼي او و مشر کينو ته بـو تـانـو بـانـدي پښـي ايښـو دل کفر ښکاره کيږي که د کعبې بازي زيان مـن شيـي نـو مسـلـمـانـا ن هغه ورانوي بيا ئې جوړوی مګر مشر کان د کفـر ورانـول کـفـر ګڼي عـلاوه پـر دې که کعبه ورانه شي نو مسلمان د هغـې لـور ته مخ کوي او د مشر کينو بت ليرې شي توجه ورته نه کوي او دوی دغـه بـو تـانـو تـه سـجـده کـوي او مستـحق ئی هم ګڼي مګر موږ کعبه مستـحقه نه ګڼو .

## د زکوٰۃ فلسفه

﴿۱﴾ چـې انسـا ن د خـدای پـه لـپاره هـغـه مال چې د ده د ژوندو ن او مـعيشـت دارو مـدار او ده پـه زوراور بړونو او تکليفونو لاس ته راوړي دي چـې تـر څـو ده ده څـخـه هـغـه بد صفت چې بخل ورته وائی ليری او د دنيـا او آخرت د نجات او خلاصولو يوه و سيله شي لکه چې لوي خدای (ج) ددغـه صفت ورکول د دنيا او آخرت د فلا ح پوره وسيله ګڼلې ده او فـرمـائيـلـي دي .د مـن يـوق شح نـفسـه فالئک هم المفلحو ن . بر سيره پـر دې دغـه دايـمـا ن د مـحکم والي لپاره هم يوه پوره مرجيبه ده نو ددغه وجوهو په سبب شارع مسلمانان د زکوٰۃ په ورکولو مامور کړي .

﴿۲﴾ زکـوٰۃ ورکـول د بشـر افـرادو تـر منـځ پـوره همدردی او خير

خواهی او په عاجزانو او بیچارګانو ترحم دي او د خپل وقار ساتل دي لکه په آنحضرت ﷺ فرمائی من لم یرحم صغیرنا و لم یوقر کبیرنا فلیس منا، یعنی که بډایان په بې وزلو ترحم ونه کړي او فقیران د غنیانو احترام ونه کړي د اسلام د طریقې نه وزي .

## په زکوٰاة سره ګناهوي لري کیږي او د برکاتو منبع ګرځي

﴿۴﴾ په هر ښار او طن کښې عاجزان او بې وزلی واړه او زاړه شته دغه غربت او فقیری داسی نه ده چي مدام په یوه سړی دی بلکه داد خدای مقررات نن په یوه سبا په بل راتلونکی دی نو که چیرته ددغه فقر مخنیوي ونشي نو خلک به تول د هلاکت په کنده کښې ولویږی او ژوند به ئی برباد شي نو ددغو مشکلاتو دلیري کولو لپاره شارع یوه طریقه ایښی ده چي په زکوة او عشر او صدقاتو سره ترې تعبیر کوي که چیرته دغه نوموړي طریقه همداسي جاري وساتل شي نو په مسلمانانو کښې به فقیر او حاجتمند پاتی نشي او دغه د مرسته کوي او که بیا مرسته کوونکي عاجز شي نو دا بل به بیا ورسره کومک کوي او دا سلسله به تر آخره جاری وی ځکه مال خو غاد اوراح دي نن وی او سبا نه وي .

## د رسول ﷺ په اولاده زکوٰة او صدقاتو د حرمت فلسفه

﴿۱﴾ کله چي زکوة د مال خیري دی نو له دې کبله آنحضرت ﷺ په خپل اولاد باندې حرام کړو چی تر څو ددغې خیری په اخستلو باندی

سپک و نه کړځي .

﴿۲﴾ ددې لپاره چي په آنحضرت ﷺ دا گمان و نکړی شي چي زکوٰة فرضول او صدقاتوئی د خپل اولاد له خاطره کړې دی نو له دی کبله آنحضرت ﷺ په خپل اولاد زکوٰة حرام کړ .

﴿۳﴾ دا چي خلکو ته ښه ثابته سي چی د آنحضرت ﷺ نظریه يوائي او يوائي دعا مو مسلمانانو فائده او گټه ده او خاص د خپل اولاد او اهل بيت نفع په نظر کښی نه لري .

## د روژې د فرضيت سِر او حکمت

﴿۱﴾ کله چي غزااو جهاد په اسلام کښي يو مهم شي او جهاد په مسلمانانو باندي هر قسم حالات گرمی او يخني لوږي او تندی او تکليفونه او ر برونه چي د مسلمانانو د ثبات او استقامت پښي لغزوي .راتلونکي دی نو تر څو مسلمان مخکښي تر مخکښي د دغور برونو سره عادي نه شي نو د دشمن په مقابل کښي مقاوت نشي کولی چی ددغه له يوه د مسلمانانو لپاره ددنيا و آخرت د هلاکت او بربادي سبب گرځي او له بل پلوه د وطن او خاوري د بربادي موجبات دي نو له دې کبله پاک خدای ﴿ج﴾ د خپل کامل حکومت په مقتضاد روژه فرض کړه چي تر څو له مخکښي څخه ددغو تکاليفو سره عادي شي او دغه روژه هم دي د ځان او هم د وطن د ساتلو پوره عامل شي .

﴿۲﴾ کله چي په روژه کښی مسلمانان د لوږی او تندي سره مخامخ کيږی نو د غريبانو او فقيرانو حال ورته رايادېږي او په هغوي باندي د ترحم او عاطفي سبب گرځي .

﴿٣﴾ روژه د روغتيا د ساتنـي لپاره يوه مهمه وسيله ده او ځکه چي په روژه کښي د خوراکی سلسلي کم والی پيدا کيږي او پدې خود شرق او غرب ډاکټران متفق دي چي د روغتيا دار مدار کم خوراک دی .

﴿۴﴾ هغه کسان چي د معدې په ضعف او د پړسوب په مرض اخته وی او هغه کسان چي وينه ئی زياته وي روژه نيول ورته ګټور ثابتيږي .

﴿٥﴾ دا چي په روژي سره د حيوانيت مقتضيات ليري کيږي او د انسانيت خواهشات او د عقل زياتوالي په انسان کښي پيدا کيږي

﴿٦﴾ روژه په انسان کي د ويري او تقویٰ صفت پيدا کوی او انسان په ډيره عاجزي خدای ته راجع کوی برسيره پر دې روژه د انسان ته دښو اخلاقو درسنونه ورکوي او دبد او رزيلو اخلاقونه ئې خلاصوي،

﴿٧﴾ برسيره پر دې چي روژه د شيطانانو څخه لري او ملائکو ته نژدې کوي د انسان لپاره يوه روحي غذا هم ده .

﴿٨﴾ لکه څنګه چي انسان په جلا بوسره د فاضلو اخلاطونه خلاصيږي دارنګه په روژې سره د ګناهنو نه خلاصيږي .

﴿٩﴾ روژه د خدای د ميني او محبت يوه لويه نخښه ده .

## د حج او کعبې د طواف حکمت

﴿١﴾ په انسانانو باندی د حج د عبادت د مقرريدلو حکمت دادی چي د لوی خدای (ج) عبادت دی چي په روحانی امورو باندي ددلالت لپاره د نموني په توګه جسماني امور پيدا کوي نو د نوموړي دعبادت

سره ئى موافق د بيت الله تا داو كيښو د لنډه دا چه انسان د عبادت لپاره پيدا شوي او عبادت په دوه ډوله دي . اول تنزل انكسار دوهم ايثارو محبت يعني د بل حق په ځان مقدم ګڼل د تنزل او انكسار لپاره خو لمونځ فرض شويدى چى په جسماني رنګ كښي د انسان هره عضوه په تضرع او خشوع شي كله چى د زړه د سجدې په مقابل كښي په لمانځه جسماني سجده هم مقرر كړاى شو چه تر څو دغه جسمانى سجده د زړه په سجده باندي ظاهر او باهر دلالت وكړي چى تر څو روح او جسم دواړه لوى خداى (ج) ته په عبادت كښى شى .

﴿۲﴾ جسمى سجده بيكاره او لغوه نده او داځكه چي دا خو ثابت حقيقت دى لكه څنګه چى خداى (ج) د روح خالق او پيدا كوونكي دي همدا رنګه د جسم خالق او پيدا كوونكي هم دى . نو په دواړه باندي د خداى (ج) د خالقيت حق ثابت دى . برسيره پر دې روح او جسم ديو بل ته اثر هم قبلوي ځني وخت د جسم سجده د روح د سجدې لپاره محركه ګڼل كيږي او كله بيا روح هم په جسم كښي دسجدې حالت پيدا كوي او ځكه چي په جسم او روح دواړه د آئيني په څير دي چي هر يو د بل څخه انعكاس اخلي د مثال په توګه يو سړى ځان چى هغه ته كله كله ددغى تكلفى خندا په اثر حقيقى خندا هم پيدا كيږي او كله سړى په تكليف ځان ژړوي چي هغه ته د نو موړي ژړا په اثر حقيقى ژړا ورځي نو كله چى دا ثابته سوه چى عبادت په يوه قسم كښى چى د تنزل او انكسار څخه عبارت دى جسماني افعال په روح باندي اغيزه اچوي نو پس همدا رنګه د عبادت په دوهم قسم كښي محبت او ايثار

دی جسـمـانـي افـعـال روحـانـي افعالو باندي اغيزه لري او تاثيرات ترې اخلي نو لـه کبلـه د کـعبې طـواف چي د لوي خدای د محبت يوه پوره نـمونه ده او د عبادت په دوهم قسم کښي شامله ده همدا رنګه ګرد شونه لازم و شـمـيـرل شي چي تـر څـو پـه دغـه بـاطنی محبت باندي يو اثر او علامه شي .

﴿۳﴾ د عـالـم پـه مـحبت کښـي روح پـه هر وخت کښي د خپـل مـحبوب د کور په شاؤ خوا کښي ګرزي او ډير محبت له وجې نه دهغه درشائـی مـچي کـوی نـو لــه هـمدې وجهی نـه لوی خدای ﴿ج﴾ د خپلو ريښتيـنـو مـحبانو او دوستانوو لپاره د کعبې خونه د جسـمانی محبت لپـاره چي د روحاني محبت څخه نمائيندګي کوی يوه غټه نمونه جوړه کړه لکه چي فرمائی دا زما بيت دی او حجرا سود زما د کور د رشائی تيږه ده چي تـر څـو انسـان پـه جسـمانی توګه ددغه بيت څخه په ګرځيدلو او ددغـي تيږی په مچي کولو زماسره خپـل عشق او علاقه په ښکاره توګه سره ظاهر کړ او په خپـل ځان باندی ددغه عشق او مـحبت نشي او علائم ښـکـاره او قـائـم کـړی نـو لــه دې وجهـي نه حاجيان ددغـه عـشق د اثارو او علائمو د پيدا کولو لپاره حجرا سود مچي او د بيت الله طواف کوي .

﴿۴﴾ کـلـه چـي هـر ملت او سلطنت د يو دربارد پاره ضرورت لري تـر څو ټول خلک سره جمعه او د بل څخه مسـتـفـيـد شي او همدا رنګه يو د بـل ضروریاتو خبرا و مطلع شی نو د هغه دربار تعظيـم عـلائم هم ظاهره وی د اسلام دين هم د حج ضرورت يو خوراغټ او مهم شي وګانه چي تر څـو ټـول مسلمانان سره هغه مخصوص ځاي کښي راجمعه او يو د بل د

حال څخه ځان خبر کړي .

## د نکاح فلسفه

هر کلـه چي الله پـاک زمـکه پيدا کړه او په ده کښې ئې هر قسم مفيد و شيانو پيدا کړي وه نو لا بدى شوه له دې نه چي دا زمکه آباده او د هغـو ټولـو شيـانـو نـه ئى استفاده وشى او دا هلتـه کيږى چه انسان د نـوعـى هميشـه پـه زمـکـه کښې هستو ګنـه اؤ ژوند وکړي د انسان د نوعى بقابى د نکا ح څخه نه راځى نو له دې وجهې نه د شرعى له خوا د نکا ح امر و شو چى په قرآن او داحا ديثو کښې ښکاره ذکر شوى دى .

بلـه دا چې د ښځى نکا ح دارامې راحت او بې غمى سبب ګرځى او د تشتـت او پـراګنـده افـکـارو نه سرى ساتل کيږى او د کور انتظام او تـدبيـر د پاره يوه ښـه وسيلـه ګڼل کيږي او د تعارف او امتياز خلکو د همـدې پـواسطـه مينـځ تـه راځـى او همدا د خلکو تر مينځ د رحمت او شـفـقـت سبب ګـرځـي او د تعارف او د مرستى يواځنى رول لوبوي او د صحـت لپـاره يـوه ښـه وسيله ده او د پرهيزګارى لپاره په خلاف د زنانه چـه هـغـه د خلطوالى نسب سبب ګرځى او د معزز انسان د نقض حرمت ده او د ډول ډول نـاروغيـو سبب او مـنبـع ده ځـکـه کـه يوه ښځـه پـه يوه سـارى مـرض اختـه وى نـو د هغې سره قربت او نشر دې والى د امراضو د انتـقـال سبب او مـؤجـب ګـرځـى او بـلـه دا چى اولاد د شفقت او نسل لـه مينځـه ځى په دې خبره پوه شى چې انسان ددې زمکى دآبادى لپاره پيدا شـوى دى او کـوم شـي چـې پـه زمـکـه کښې پيدا شويدى هغه د انسان د پيدائښت لپاره دى چې د انسان وجود د زمکى د ابادى سره مستلزم دى

كه دنيا زمانه ختمه شي دا دانسان نوع دساتني او تنازل لپاره مستلزمه ده ترڅو حقيقت او ما فيها عبث نه شي له دې نه دې نتيجې تې رسيدلای سو چې دمځکې دآبادۍ دانسان وجود پورې ارتباط لرى او دانسان وجود دنكاح پورې موقوف دى او دغه حكمت ډيو بل حكمت متضمن دى . زيات فوائد لري او اصل ته د فرعي حيثيت لرى ځكه چې دزمكې آبادى له ډيرو و جوهو څخه مينځ ته راتلاى شي چې په ځينې د زريت كثرت دى چې د زريت دغه كثرت د زمكى دآبادى له ډيرو وجوه څخه مينځ ته راتلاى شي چه ځيني د زريت كثرت دى چې د زريت دغه كثرت د زمكى دآبادى سبب ګرځى او دانسان د زريت كثرت دنكاح له لورى مينځ ته راځى ځكه كوم شي چه حصول او قوام ئې جماعت سره راځى په فرد باندې مشكل تماميږي نو كله چې خبره داسى شوه دنسل بقاء او كثرت حتمى اولازمى ښكارى . او دنيا ابادى ده پدې كښې شك نسته چې په ژوند انه كښې دانسان حالت دكورنۍ اوضاع دانتظام څخه پرته نشي ښه كيدلائى .او د كور له تدبير نه پرته دښه عيش خاوند نه شي كيدلائى دا ټول شيان دښځى وجود پورې اړه لرى ځكه چې د كور تدبير دښځو كار دي نو همدا علت دى چې په نكاح رواشوې ده ترڅو دنيا ابادى او د سړي حالت مستقيم ارتباط ولرى .

﴿۲﴾ دوهمه ګته ئى دا ده چې انسان خپل طبعى سره مينى او محبت ميلاو كوى چې د ښځى وجود سړي نه غم او حيثيت ليري كوى دې بلى خوا دانسان د معيشت د حالت په انتظام كښى د ده ښه مددګار

او مـرستياله ده پدې مقام کښې يو بل حکمت هم شته چې هغه د تنفس پـه ادابـو او لـه رزائـلـو څخـه دده د نـفـس په ليرى والى پورى تعلق لرى همدا خبره ده چې د انسـان ابرو مـحتـرمـه ده او دابرو بى حرمتى ډير بـدکـار او عـار دى انسـان ددې لپـاره پيـدا شـوى دى چې د ابرو په حرمت اوکرامت باندى وکړي .

بـلـه دا چې نـکـا ح د شهوت انگيزه نظر مانع ده او که چيرى نظر غيـر مـحـلات راشـى نـو لـه دې جهتـو د ضرر مستو جب گرځى بحصول دازيـلـى او بـل د هغه چا او دده په مينځ کښې عداوت پيدا کيدل دى چې بـه زنا او فسق سره د هغه بې حرمتي مينځ ته راځي ددغـه ډول عداوت او دښمنې د عالم په انتظام کښى کډوډې پيدا کوي .

﴿۳﴾ دا چې نـکـا ح د انسـابـو سـاتـنـد وي ده او دانسابو پـه ساتـنـه کښـې ډيرى گټې دى چې مهـمـه ئـى پـه ميراث کښې د حقوقو ساتنه ده .بـلـه دا چې د خـلـکـو تـر مينځ د شفقت تر حم او صله رحمي موجب گرځي .

﴿۴﴾ بـلـه گـټـه ئـى لـه زنا څخه ليري والى دي او پدې مقام کښې دوه حـکـمتـونـه نـور هـم شته چې د هغي ذکر هم بې گټې نه دى له قلت څخـه د خير کثرت دي چې په احاديثو کښې هم هغه مهم ټکي ته اشاره شوې ده .

بـل حـکـمـت ئـى دادى کـلـه چې انسـان مـړ شي ټول اعمال قطعه کيـږي چـې د هغـه پـه سبب د ده رحمت او ثـواب وصـل کيږي او که نکا ح وکـړ اولا د بـه ئـى پيـدا سي چه په خير سره به ئى يادوى او دوعا به ورتـه

کوی نو لـدې کبلـه عمل نه منقطع کیږي ځکه چې د صالح اولاد وجود انسـان د دائمـی اعـمـالـو څخـه ګڼل کیږي چه دانسان لـه مرګ څخه وروسته باقـی پـاتـي کیـږي په حدیث شریف کښي راغلي دی کله چې انسان مړ سی عملو نه ئی قطع کیږی مګر دري شیان جاری پاته کیږي صدقه او نافع علم او صالح اولاد چې دعا ورته کوي .

﴿۵﴾ ښځه د ننګ او ناموس د مال اولاد محافظه او مهتممه ده .

﴿٦﴾ نکاح انسان د پاکی طرفته بیائی او ناوړه کارو څخه ئی لیری کوی .

﴿۷﴾ نکاح د محبت او حیا سبب د خدای د فرمانبرداری موجب ګرځي او انسان د بې شمیره نارو غیو څخه بچ ساتی چې ډاکټرانو په خپل ځای کښي ذکر کړی دي .

## په څلورو کښي د ښځو تعداد د انحصار وجه او فلسفه

﴿۱﴾ هر کلـه چې یو سړي یوه ښځه په نکاح واخلي نو تر درې میاشتو پوری ددې لپاره تکافو کوی ځکه چې حمل له درې میاشتو څخه کمه نه معلومیږي او دحمل په وخت کښي جماع کول د حمل د غورزید و سبب ګرځي او هم د حمل د ولد اخلاقی سلسله خرابه او ضرر ورته عائدیږي نو د ښځې د حمل په وخت کښې چې سړی د شهوت په جوش راشي څه به کوی که د خپلی ښځې سره نزدیکت کوی حمل ته ضرر رسیږي او که نزدیکت نه کوی حتماً په زنا کښي واقع کیږي نو ددې لپاره شرع دوهمه ښځه ورته رواکړه بیا چه کوم وخت دوهمه ښځه په نکاح واخلی هغه هم پس له درې میاشتو حامله کیږي او

جماع ورسره نقصان کوي نو خامخا دريمی ښځی ته احتیاج پیدا کيږي او دريمه هم تر دري مياشتو پوری کفایت کوي او بیا حمل اخلی نو څلورمی ښځی ته احتیاج ؤ نو په دغه سبب شرعی ورته روا کړي دي ځکه چي دې وخت کښي دلومړنۍ ښځی عين وخت دی تر څو چي د څلورمی ښځی دري مياشتی تيريږي ظهور د اولاد راځی نو اولنی ښځه ورته د جماع وړ کړ ځي او د دې خبري علت چي له دري مياشتو څخه وروسته جماع او اولادته اخلاقی یا جسمی ضرر رسوي دا دی چي د حمل په وخت کښي د خپلی ښځی سره جماع کول اولاد ته ضرر رسوي .

﴿۲﴾ ښځه په هر وخت کښي قابل د جماع نه وي چه خاوندئی ورسره نزدې والی وکړي ځکه چي په هره ښځه باندي په میاشت کښي یو ځل حیض راځی او پدې ورځو کښي د ښځي نزدې کیدل شرعی او د طب له مخی منعه دي او په ځینی نورو ورځو کښي هم سړي د ښځي نه منع کيږي لکه د حمل په ورځو کښي پدې ورځو کښي د طب له مخي د کوچنی د روغتیاله کبله منع شوی دی کله چي د ښځي لپاره دومره عوارض پیښيږي او کوم سړي چي د شهوت غلبه ولري بیله دې چي زیاتی ښځي وکړی بله لار د زنا څخه د خلاصیدو نه لری .

﴿۳﴾ په تودو سیمو کښی ښځه په اته نهه یا لس کلنی کښي د ازدواج وړ کرځی او شلو کښي زړيږی او ښائست ئی له منځه ځی نو که تعداد د ازواجو رانشی نو ضرور دوی زنا ته مایل کيږي .

﴿۴﴾ د هر وطن ښځي نسبت د نرانو زر زړيږي او شهواتی قوائی

هم له منځه ځي او له پنځو سو کالو وروسته ئې شهواني قوا تنقیض کیږي او د نرانو شهواني قوه تر آخره پوري وی نو که تعدد دازواجو رانشي نو دغه خلک هم زنا ته راجع کیږي .

﴿۵﴾ د ښځو شمیر له نرانو څخه زیات دی نو که تعدد د ښځو رانه شي نو ډیری ښځی به بې میړو پاتی شی او دا بیاد عدالت څخه لیری ده ځکه چي په یوه وخت کښي په لویه بر طانیه کښي خلک چي و شمارل شول نو د ولس لکه نهه شپیته زره درې سوه او پنځوس ﴿۱۲٦۹۳۵۰﴾ ښځی د نرانو څخه زیاتی سوې دي نو که تعداد د ازواجو رانشي نو دغه ښځی به بې میړو پاتي شي او هم په فرانسه کښي کله چي ﴿۱۹۰۰﴾ کال کښي خلک و شمارل سو نو د ښځو شمیر له نرانو څخه څلور سوه دریویشت زره او اوه سوه نه ﴿۴۲۳۷۰۹﴾ تنه زیاتی وی او د جرمن د خلکو په شمیر کښي کله چي په ﴿۱۹۰۰﴾ کال کښي لیدل شوی دی د ښځو شمیر نسبت نرانو ته اته سوه اووه اتیاز ه شپږ سوه اته څلویښت ﴿۸۸۷٦۴۸﴾ تنه زیاتی وې .

او په سویډن کښي په ﴿۱۹۰۱﴾ کال کښي د ښځو شمیر د سړیو په نسبت ۱۲۲۸۷۰ تنه زیاتی وي او په هسپانیه کښي په ﴿۱۸۹۰ء﴾ کال کښي ﴿۴۵۲۷۹٦﴾ تنه ښځي دنرانو څخه زیاتی وی او په استرلیا کښي په ﴿۱۸۹۰ء﴾ کال کښي د ښځو شمیر له نرانو څخه ﴿٦۴۴۷﴾ زیاتي وې او په ستر لیا کي په ﴿۱۸۹۰﴾ کال کښي دښځو شمېر له نرانو څخه ﴿٦۴۴۷۹٦﴾ تنه زیاتي وې نو که تعدد ازواجو رانه شي نو تقریباً څلور میلیونه درې سوه تنه ښځی به د انسانیت د مقتضاء نه محرومی

پاتې شي نو ضرور به دوي د خپلو خواهشاتو د پوره کولو لپاره د ناجائز و طريقو څخه استفاده وکړي چې د زنا څخه عبارت دي او د حراميانو د زيا ت والي او د خپريدو سبب به شي حتى ځنيو ليکلي دي چې په بروکسل په سلو کښې څلويشت تنه حساب شويدى دغه رنګ په فرانسه کښې په سلو کښې ديرش تنه او مويخ کښې په سلو کښې څلويشت تنه او ډنمارک کې په سلو کښې پنځوس تنه حساب سوي دي دا ځکه زيات دي چې په دوى کښې تعدد ازواجو نشته که تعدد د ازواجو واى نو د حراميانو د زياتوالى سبب به نه کيده .

﴿٦﴾ د ښځې او نر تر مينځه د رفاقت ژوند وي او ډير ځله ښځې پداسې امراضو اخته کيږي چې لدوى نه مشروعه او نکاحى اغراض او مقاصد نشي پوره کيدلائى نو که تعدد د ازواجو رانشي د دغوا اغراضو پوره کولو لپاره به څه وسيله شي .

﴿٧﴾ اسلامي دين چې د ښځو تعدد روا کښلى دي ددې لپاره چې د ښځو حقوق پوره او د انسانى نسل بقاء راشي او ځکه هغه وخت چې ښځه شِنډه او د علاج وړ نه وى او بله ښځه هم روا نه شي نو بالضرور پدې صورت کښې د نسل قطع راشي او ښائى چې طلاقولو لپاره کمال محبت د زوج مانع شي او بل هميشه د اسلام نفوس د دښمنانو په نسبت کم اولږوي نو همدې منظور لپاره ديوه سړي لپاره څلور ښځې رواشي تر څو ديو پلونه د دښمن مقابله په صحيح او کامله توګه وکړو او د بل پلو نه اعلاء کلمة الله راشي او هم دامت په کثرت د نبي کريم ﴿ص﴾ فخر راسى .

﴿۸﴾ که تعداد د ازواجو راشي نو ځینی ښځی به بې میړه او خاوند ژوند وکړي او داځکه چي هر کال د دنیا په لویه برخه کښي په لکونو او زرګونو سړی په ښخړو او جنګونو کښی به په حق رسیږي او ښځي خو تولی د هلاکتو نه بچیږي او په دې بناء حتماً د سړیو تعداد د ښځو په نسبت کمیږي او تعداد د ښځو زیاتیږي نو که د ازواجو تعداد رانشي هغه ښځي چي د سړیو څخه زیاتی وی بې میړو پاتی شی لکه یو جرمنی فیلسوف لیلکی دي چي د عظیمه په جنګ کښي په میلیونو جرمنیان مړه او ښځی کونډي پاتي سؤی نو دوی به ډیر افسوس کاوه چي کاشکی زموږ دین هم د اسلام په شان وای چي په تعداد د ښځو ئی اجازه راکړې وای چی ترڅو دیوې خوا هغه کونډي شوي ښځی بې میړو پاتی نه وای او د بلی خوا به زموږ د نفوسو د زیاتوالی سبب ګرځیدلی وای .

﴿۹﴾ د څلورو عدد داخلاصو عدد دی چي په هغې سره د انسان د بدن قوام او اصلی ماده ترتیب کیږي نو ځکه څلور ښځی روا سوی تر څو چي د هر غلط په مقابل کښي یوه ښځه راشي .

﴿۱۰﴾ د کسب اهل څلور دي امیر تاجر زراع او صانع او خپلو همدغه د څلورو څخه دیوه سره محبوبه واقع کیږي نو ځکه څلور ښځي روا سوې .

﴿۱۱﴾ فصول څلور دي او د عالم د حیات د حالاتو اصلاح په همدې سره راځی نو ځکه څلور ښځی روا سوې .

## د زنا د حرمت او حکمت فلسفه

## د زنا تحريم حکمت زياتى وجهې لري

﴿۱﴾ د نسب ساتنه ځکه که زنا راشي نو شعوب او قبائل بطرز افخاذ به له منځه ولاړ شي اؤ د خلکو تر مينځ به هغه تعارف ورک شي کوم چي الله پاک ارشاد فرمائلى دى او هغه نسبت اؤ عزيز ولى به ورکه شي چي د هغې په قوت سره د انسان قوت او شوکت زياتيږي او له ځان تول ضرورتونه پرې رفعه کوې او ورک به شي تناصر او تعاون چي دغه کار د عالم بربادى او تباهي سبب ګرځي .

﴿۲﴾ د زنا حرمت له بې حرمتى څخه ابرو ساتي هر ارزو چي هتک کيږي نو خلق د شرافت څخه رزالت ته وصل کيږي .

﴿۳﴾ حرمت د زنا کور تدبير په چارو کښي د حال د انتظام موجب ده ځکه چي کله ښځه وپوهيږي په ميړه ئى زنا ته ميلان کوي نو د خپل ميړه په نسبت ئى ميلان کميږي او دده د کورنيو .حاجاتو قضا چي دغه افعال د دوي په مينځ کي کينه او نفرت پيدا کوي چي د کور خرابى او زياتى فتنى تر مينځ راځي .

﴿۴﴾ د زنا حرمت د نسل د ساتنى موجب دي ځکه چي زانيه ولد ته رغبت ددې لپاره نلري چي د محبوب نه ئى مانع ګرځي نو کله چي نسلونه کم شي زمکه او دنيا نه اباديږي .

﴿۵﴾ حرمت د زنا په فقراو فاقه کښي له واقع کيدلو څخه د سړو مانع ځکه ګرځى چي زانى او زانيه يو بل محبوب ګڼي نو د بل شي قصد نلري غير دخپل محبوب درضا مندى څخه او څه چي دده په لاس

کښي د نو محبوب د خوښي او رضامندي لپاره وي چې په دغه وسيلـه د کتمي او غـريبي نه پاتي کيږي لکه چې دغه کار زموږ په زمانه باندي پوره مشاهده ده مثلاً موږ کورو کوم زاني که څه هم ډير مال او ثروت لري وروسته ئې په لاس کښي هيڅ نه پاتي کيږي او په فقراو فاقه اخته کيږي .

﴿٦﴾ حرمت د زنا د شفقت او رحمت مؤجب ګرځي ځکه چې ولد زنا د بي پروائي او عدم اعتناء له کبله يا په صغارت کښي مري او يا داچه په ډير ذلت او بد بختي ژوند کوي چې د عدم تربيتي او بې ادبي له وجهي قاتل او عامه امن ګرځي او کوم وخت چې د علم او ډير ثروت خاوند شي هم ئې ژوند په خلکو د ذلت او تاسف نه ډک وي . کوم وخت چې خلک په نسبونو او حسبونو د پلار ترونو او ماما ګانو په شرف افتخار کوي نو دې د سر ټيټي او خجالت سره مخامخ کله چې د زنا ضرر او نقصان فساد او قبح او خجالت اجتماع لره اظهر من الشمس دی ځکه شارع الحکيم د خپل حکمت په مقتضیٰ سره ترې منع کړې دی او قباحت ئې په زياتو قرآني ايتونو او احاديثو کښي راغلي دي .

## خلکو ته د زنا ضرر او نقصان

په دې ځای کښي موږ د هغه ضرر تو ذکر کؤو چې اطباؤ په زاني او زانيه کښي مشاهده کړې ده د وخت ځينې لويو ډاکټرانو او اطباؤ وئيلي دي چې ډير داسې امراض چې له يو نه بل ته سرايت کوي سبب ئې په حقيقت کښي واحد شي او هغه له جوړي او روغي ښځي سره د مريض سړي زنا او يو ځاي کيدل دي او ياد دې په عکس د عامه صحت

لپاره د زنا حراموالی دوه سببونه لري .

﴿۱﴾ په ساري ناروغيو د سړي له ګرفتاري څخه ليري والی .

﴿۲﴾ له هغو اشخاصو څخه د سړي لری والی دي چي په ساري ناروغيو لکه سل سوزاک جذام طاعون کورونا ايډز او داسی په نورو اخته وي او تماس ئی د يوې زانيه ښځي سره راشي دده د ناروغي مکروب زانی ته انتقال کوي او هر څوک چي له دغې زانيی سره تماس ونيسی هغه هم په نوموړي ناروغي اخته کيږي او په خپله زانيه هم پدغې ناروغي اخته کيږي او فاميل ته ئی هم دغه ناروغي سرايت کوي او لدغه لياري دغه ناروغي په ګرد عالم کښي خپريږي او د زنا په حرمت سره ټول عالم له مهلکاتو څخه خلاصيږي .

## يوه سړي ته ډيري ښځي روادي

## او يوې ښځي ته ډير ميړونه روانه دي فلسفه څه ده؟

﴿۱﴾ ښځه د اولاد په حق کښي داسی مثال لري لکه چي زمکه د پيداوار په حق کښي لري نو څرنګه چي د زمکی د پيداوار او اجزاء يو د بل سره برابر يداى شي نو په ډيرو سړيو کښي مشترکه کيداى شي نو د نکاح په استحقاق سره لومړی هر يو خپل حاجت دپوره کيدلو استحقاق لري اول نو دې کښي د فساد او عناد ډير ډير ګمان کيږي بنائی په يو وخت کښي دټولو احتياج د حاجت پوره کولو ته پيدا شي او ټول خو حاجت نشي پوره کولې نو ضرور به هر يو د بل مصارف او مقابل واقع شي چي په دغه سبب به قتل او قتال جنګ او جدال به مينځ ته راشي او د عالم نظام به ګډوډ شي او امنيت به له مينځه لاړ شي بل دا

چې که یوه ښځه د ډیرو میړونو مشترکه شي او یو ولد وزیږه وي نو ددوي اتفاق به څرنګه راشي تو ته تو ته خوئی کولې نه شي او یوه به ئی پرینښو دلي هم نه شي او که فرضاً اتفاق وکړي چې یو دیو او نور دي انتظار نورو ته وباسي نو بیا هم په نر او ښځه کښي اختلاف راځي او که بیا هم ټول نر او ښځي شي بیا هم تفاوت په شکل او صورت کښي راځي او اتفاق غیر ممکن دي او فرض شي چې ټول په یوه شکل وي بیا ئی جدائی په خوف کښي راځي او دا خو هیڅ ممکنه نه ده چې دا ټول بالضرورشیان هر یوه کښي راشي نو ضرور بالضرور منازعی او جګړې ته مقتضي کیږي او د عالم نظام د خرابي او بربادي سبب ګرځي نو ځکه د اسلام مقدس شریعت یوې ښځي ته ډیر میړونه د یو بل په ژوند کښي روا کړي ندی د سړیو په خلاف که یو سړي ډیري ښځي وکړي مثال ئی داسي دي لکه چې یو دهقان زیاتي زمکي ولري څرنګه چې یو دهقان په ډیرو زمکو کښي تخم اچولي شي او د هر یو تخم نه بیل بیل پیداوار اخلي همدا رنګه یو سړي که څلور ښځي وکړي بې د کومي جګړي او منازعی نه دڅلورو وارو څخه پیدا وار اولاد اخستي شي نو ځکه شریعت سړیو ته ډیري ښځي روا او یوې ښځي ته یو میړه وټاکلو .

﴿۲﴾ ښځه د اسلام د قواعد وسره سمه محکومه او سړي حاکم ګڼلې کیږي او لکه څرنګه چې بادار د غلام او وینځي لپاره د نفقي او جامي پیدا کولو ذمه واري دغه دوینځي او غلام اعتاق د مولا او بادار په لاس کښي د همدا رنګه د ښځي طلاق د میړه په اختیار او قدرت

کښې دي او څرنګه چې غلام او وینځه د بادار مال بې له اجازې نشي خرڅولی او نه ئی هبه کولي شي نو له دغو وجهو نه د میړه حاکمیت او د ښځې محکومیت څرګنده شو نو پدې اساس د یو سړي د پاره ډیري ښځی ددې قانون په مقتضيٰ روا او د یوې ښځي لپاره ډیر میړونه روانه شول .او یوه مخدوم لپاره ډیر خادمان راتلاشي او د یو خادم لپاره مخدومانپه سبیلي د استقلال نه شي راتلای .

مسلم الاعور اسمه مسلم بن کیسان الملائی ضعیف ﴿۳۲۳﴾
ابراهيم بن عثمان منكر الحديث ﴿۳۲۵﴾

ابو المهزم نوم ئی یزید بن سفیان دي ﴿۳۲۷﴾
زیاد بن عبد الله کاذب ﴿۳۳۵﴾
عطاء بن عجلان ذاهب الحدیث ضعیف ﴿۳۵٦﴾
حسن بن قیس ضعیف ﴿۳٦۱﴾
علي بن یزید الشامی ضعیف ﴿۳۷۳﴾
عبید الله العرزمي ضعیف ﴿۳۷۱﴾
یزید الرقاشي ضعیف ﴿۳۹۱﴾
عاصم بن عمر ضعیف ﴿۴۰۲﴾
اسماعیل بن مسلم المکی ضعیف ﴿۴۹۳﴾
ابو واقد اللیثی منکر الحدیث ﴿۴۰۳﴾
ابراهیم بن اسماعیل ضعیف ﴿۴۰۳﴾
جابر الجعضي ډیر خطر ناک ﴿۴۰۴﴾
عفیر بن معدان ضعیف ﴿۴۱۰﴾
ابو رملة مجهول ﴿۴۱۰﴾
حمید الاعرج منکر الحدیث ﴿۴۳٦﴾
حارث بن بنهان ضعیف ﴿۴۴۰﴾
صالح بن حسان منکر الحدیث ﴿۴۴۰﴾
عبد الله بن بسر بصری ضعیف ﴿۱۴۴﴾
عبد الکریم ابن ابي المخارق ضعیف ﴿۴۴۳﴾
قیس بن الربیع ضعیف ﴿۴۴۸﴾
عنبة بن عبد الرحمن ضعیف ﴿۸۴۴﴾

عبد المالک بن علاق مجهول ﴿۴۴۸﴾
یحیی بن عبید الله ضعیف ﴿۴۵۷﴾
ناصح بن علاء الکوفي ضعیف ﴿۴۵۹﴾
عبد المهین بن عباس ضعیف ﴿۴٦۵﴾
ابراهیم بن اسمعیل بن ابي حبیة ضعیف ﴿۴۷٦﴾
بقیة ابن الولید ضعیف ﴿۴۷۷﴾
اسماعیل بن عیاس مدلس ﴿۴۷۷﴾
عبد الله بن میمون منکر الحدیث ﴿۴۸۲﴾
الفرج بن فضاله ضعیف ﴿۴۹۱﴾
محمد بن ابی حمید ضعیف ﴿۵۰۰﴾
عثمان بن عبد الرحمن ضعیف ﴿۵۰۳﴾
ابو سورة ابن رضي ابي ایوب ضعیف ﴿۵۳۳﴾
خالد بن ابی بکر منکر الحدیث ﴿۵۳۴﴾
ابو النعمان مجهول ﴿۵۴۷﴾
منفیع العمیٰ ضعیف ﴿۵۵۰﴾
ابا هارون العبد اسمه عمارة بن جوین ضعیف ﴿۵۵۰﴾
الخلیل بن مره منکر الحدیث ﴿۵۵۳﴾
ابراهیم بن الفضل المخزومي ضعیف ﴿۵۵٦﴾
ابو مطظفن الهمداني مضطرب ﴿۵۷۳﴾
حماد بن وافد لیس بالحافظ ﴿۴۷۴﴾
النضر ابي عمرو منکر الحدیث ﴿٦۸۷﴾

النصرا بي عمرو منكر الحديث ﴿۶۸۷﴾
عاصم بن عمرو العمري ليس بالحافظ ﴿۶۸۸﴾ ﴿۴۰۲﴾
مسلم الاحور ضعيف ﴿۶۹۳﴾
الصلت بن دينار ضعيف ﴿۶۹۴﴾
صالح بن موسىٰ ضعيف ﴿۶۹۴﴾
ابو اسحق المخزومي هو ابراهيم بن الفضل المدنى ضعيف ﴿۶۹۷﴾
زمة بن صالح ضعيف ﴿۶۹۸﴾
جابر الجعفى ڈیر خطرناک ﴿۷۰۳﴾
ابن لهيعه ضعيف ﴿۷۰۴﴾ ﴿۹۷﴾
الحجاج بن نصير ضعيف ﴿۷۱۵﴾
عبد الله بن سعيد المضبرى ضعيف ﴿۷۱۵﴾ ﴿۱۶۷﴾
يحيى بن سعيد القطان ضعيف جدا ﴿۷۱۵
الكلبى كاذب ﴿۷۱۵﴾
ابان ابى عياش كذاب ﴿۷۱۶﴾
محمد بن عمرو بن علقمه ضعيف ﴿۷۱۶﴾
ابن ابى ليلىٰ ضعيف ﴿۷۱۶﴾
مجالد ضعيف ﴿۷۱۶﴾ ﴿۶۸۵﴾
عبد الله بن لهيعه ﴿۷۱۶﴾ ﴿۷۰۴﴾ ﴿۹۷﴾
ابن جريج ضعيف ﴿۷۱۸﴾
معبد الجهني ضال و مضل ﴿۷۱۸﴾
الحارث الاحور كذاباً ﴿۷۱۸﴾

ابا لز بير الملكي ضعيف ﴿۷۱۸﴾

عبد المالک بن ابي سليمان ضعيف ﴿۷۱۸﴾

حکيم بن جبير ضعيف ﴿۷۱۸﴾

جابر الجعفی خطرناک ﴿۷۱۸﴾

ابراهيم بن مسلم الهجري ضعيف ﴿۷۱۸﴾

محمد بن عبيد الله العزمي ضعيف ﴿۷۱۸﴾ ۳۸۱

## ﴿د وحی او سيرت او احاديثو بيان﴾

### د وحی، کشف، او الهام تعريف:

استفتاء: په لاندنيو څو سوالونه پوهـ کېدل غواړم . مهرباني وکړئ د فرصت په وخت مي په پوهـ کړئ .

سوال: ...... په کشف ، وحي او الهام کي فرق سته که نه؟

که چيري فرق سته نو هغه کوم او د څه قسم فرق دئ؟

هغه صوري دئ يا معنوي؟

استدلالي دئ او که يقيني ؟

د دې وارداتو تشريح دي وکړل سي .

جواب: ......وحي هغه علم دی چي وپيغمبر اورسول ته په وخت د "انسلاخه

عن البشرية إلى الملكية"حاصلیږي بیا د دغه څو صورتونه دي:
۱﴾ ..... یو وخت آواز په مثال د "صلصلة الجرس" یعني د گهنټي آواز غوندې اورېدل کیږي .
۲﴾ ..... یو وخت ملائکه (فرشته) په خپل اصلي صورت یا انساني صورت کي راځي .
۳﴾ ..... یو وخت خبري الٰهي بېله واسطه کیږي .
۴﴾ ..... یو وخت خبري الٰهي د پردې (من وراء الحجاب) د خوا څخه کیږي .
۵﴾ ..... یو وخت علم دخوب په ذریعه ورکول کیږي . د دې وجهې څخه د انبیاء علیهم السلام خوبونه وحي وي لیکن انبیاء علیهم السلام څخه بغیر د بل چا خوبونه وحي نه وي .
٦﴾ ..... تفهیم عیني "یعني په لیدلو دیوشي معنی حاصلول دا د الله تعالی د طرفه پر انبیاء علیهم السلام باند داسي وخت راځي چي د هغو د سترګو نظر د رشد او د ثواب وطرف ته کشول کیږي .
۷، ۸﴾ ..... الهام هغه علم دی چي په یو زړه مبارک کي بغیر کسبه او بغیر دلیله ور واچول سي .
دغه که چیري د نبي څخه وي نو هغه ته وحي ویل کیږي یعني دغه د وحي یو قسم وي او دغه یو قطعي حجت او دلیل وي . او د غیر انبیاء الهام د وحي یو قسم نه وي ، او هغه ظني وي دغه د نبي او غیر نبي په خوب کي دی .
دویم فرق دا دی چي د انبیاء علیهم السلام الهام پر امر او نهي باندي مشتمل وي او د اولیاء الهام پر یو بشارت یا تفهیم باندي مشتمل وي .

دغـه وجـه ده چي پر انبياء باندي دخپل الهام تبليغ واجب وي . او پر اولياء بـانـدي واجب نه وي . بلکه داولياؤ دپاره اخفا اولی ده تر هغه وخته پوري چي يو ضرورتِ شرعيه دينيه داعي نه وي .

د دغـه تـفـصيله څخه واضحه سوه چي په وحي او الهام کي څه فرق دی الهـام د وحـي يـو قسـم دی بنـا بـر اين په وحيؤ الهام کي عموم و خصوص مـطلق نسبت جوړيږي . د مزيد تفصيل دپاره کتاب ''علم الکلام'' مولانا محمد ادريس صاحب ص: ۱۴۵ تا ۱٦۴ وګورئ .

**کشف:**

دغـه رنګـه کشف پـه لـغـت کي وخلاصـولو تـه ويل کيـږي . او پـه اصـطلا ح کي د الله تعالی د طرفه څخه يو علم پر نبي يا ولي خلاصولو ته ويل کيږي .

د نبي په علم کشفي اوولي په علم کشفي کي هغه فرق دی کوم چي په الهام نبي او الهام غير نبي کي بيان سو .

کشف او الهـام د مـعنی په لحاظ سر ه جلا جلا دي او د مصداق په لحاظ سره نژدې نژدې دي .

او نسبت د کشف او وحي هغه دی کوم چي په وحي او الهام کي بيان سو .

دغـه تـفـصيـل او نسـبـت د هـغـه کشف پـه متعلق دی چي هغـه پر نبي باندي وي . ليکن کشف بعض اوقات پر فساق باندي هم وي لکه چي ابن صيـاد ويـلـي وو ''اری عـرشـا علی الماء'' انحضرت ﷺ وفرمايل: ''تری عـرش ابليـس عـلـی البحـر'' او بـعـض اوقات کشف پر بهائمو باندي هم کيـږي لـکـه عـذاب الـقبر بعض اوقات داسي وږي چي د ثقلينو ماسوا ټولو

بهائم او مرغان يې اوري .

د كشف د دغې معنى اعم او د وحي په مابين كې د عموم و خصوص من وجه نسبت وي .

۱﴾ ...... ماده اجتماعي : هغه كشف چې نبي ته وي، هغه وحي هم دى او كشف هم دى .

۲﴾ ......ماده افتراقي : چيرې چې كشف وي او وحي صادقه نه سي پر راتلاى . لكه كشف اولياء، كشف بهائم وغيره .

۳﴾ ......چيرې چې وحي صادقه پر راځي او كشف نه وي د وحي هغه شپږ قسمونه چې د الهام څخه د مخه نمبرو كې بيان سو .

تنبيه: ......عموم او خصوص مطلق چې كوم نسبت بيان سو هغه كشف نبي او الهام نبي . او د وحي انبياء په ميان كې وو ورنه مطلق الهام او مطلق كشف او وحي په ميان كې هم نسبت عموم و خصوص من وجه جوړيږي . كما لا تخفى على المتأمل .

## (ژوند) حيات انبياء
## عليهم السلام په باره كې عقيده:

سوال: ......د زيد عقيده ده چې حضرات انبياء عليهم السلام او حضرت نبي كريم ﷺ د خپل هغه جسم عنصري سره په خپلو قبرو كې ژوندي دي . صلوة سلام ويلو والا آوازونه اوري او جواب وركوي او په خپلو خپلو قبرو كې لمونځ كوي .

او د عمرو دا عقيده ده چې نعوذ بالله د انبياء عليهم السلام جسم په قبر كې دبره غوندي دي نه صلاة سلام په خپلو قبرو كې اوري نه په هغه كې

ژوندستـه . دغـه رنګـه دعمرو دا هم عقيـده ده چي نه په دغه د خاورو په قبر کي سوال کيږي او نه راحت آرام او نه عذاب ستـه .

اصـلي قبر عليين يا سجين کي دی . چيري چي سوال جواب، او راحت او عذاب وي . مذکوره عقائدو کي کومه عقيده صحيحه ده؟

**جواب :**...... د زيد عقيده صحيح او موافق حديث ده :

**”عن أبى هريرة رضى الله تعالى عنه عن النبى ﷺ قال من صلى علىّ عند قبرى سمعته و من صلى علىّ نائيا ابلغته ،، الحديث** (مشكوٰة ص۸۶)

د عـمـرو دواړه عـقـيـدې صحيـح نـه دي، ځکـه چي عذاب روح او جسد دواړو تـه ورکـول کيـږي . د مړي و قبر ته د تک بعد ژوندي کېدل د تفسير قرآن حکيم څخه ثابت دی .

قال الله تعالى حكاية عن قولهم:﴿رَبَّنَا أَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَأَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ ﴾

فـان الله تـعـالـى:ذكـرالـموتة مرتين و هما لا تتحققان الا ان يكون فى الـقبر موت و حياة اهـ (عمدة القارى ج ۴ ص ۱۶۱) او د حضرت علامه سيد انور شاه کاشميريؒ څخه همدغه رنګه منقول دي . ( فيض الباري ج ۲ ص ۴۹۲ )

## په بسم الله باندي د استمداد لغير الله په جواز باندي استدلال جهالت دی:

**سوال :**......زمـوږ د مـحلي د جامع خطيب درس قرآن کريم ورکولو په وخت د بسـم الله الـرحـمـن الـرحـيـم تشريح کولو په وخت فرمايلي چي اسم او الله جـلا جـلا شيان دي الله خو د الله تعالى ذاتي نوم دی او ”اسم“ غير الله دی ځـکـه چي قـرآن کي د شروع کولو په وخت کي په اسم يعنی غير الله ذکر راغـلـی دی، نـو ددغـه څـخـه مسـئـلـه استـنباط کيـږي چي غير الله يعني د

اولیاء څخه استمداد کول یعني مدد (کومک) غوښتل شرعاً جائز دی او دغه دتفسیرو څخه ثابت دی . د دغه دلیل دا دی چي اولیاء الله نېک انسانان بلل کیږي او د هغو څخه کومک طلب کیږي نه دا چي هغه الله وبولي بلکه نېک انسانان یې بولي او کومک ځیني غواړي .

نو ددغه فرمان (قول) مطابق دغه د اهل سنت والجماعة صحیح مسلک دی که نه ؟

**جواب :**...... د خطیب استدلال غلط دی د اسم الهی څخه په استعانت باندي غیر الله ته قیاسول نه سي کېدای خصوصاً چي صریح آیت په سورة فاتحه کي موجود دی :﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴾ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه کومک غواړو .دغه ترجمه په تمام تفاسیرو او ترجمو کي موجوده ده .

لهذا د الله تعالی څخه کومک (استعانت )غوښتل په کار دی په حدیث شریف کي راغلي دي"اذا استعنت فاستعن بالله" چي کومکت غواړې نو د الله څخه کومک وغواړه . پاته سو د بزرګان دین او اولیاء الله نو د هغو اطاعت او فرمانبرادري کول ضروري ده ځکه د هغو په لاره په تګ کي کامیابي ده او په دغه کي د هغو دپاره هم اجر او ثواب دی . او د هغو عبادت او پرستش (یعني سجده کول) او هغوی ته د خدای درجه ورکول سراسر ظلم او جهالت دی . په دغه د بزرګانو نه خوشحاله کیږی بلکه ناراض کیږي . په ژوندو پیرانو او بزرګانو د ځان دپاره دعاوي کول پکار دي . او کوم چي مړه دي د هغو په وسیله د دعا غوښتل څه حرج نه لري مثلا داسي ووایي چي اې الله پاکه په طفیل د پلانکي ولي ما ته اولاد راکړې یا

زما پلانکی کار را وکړي .
و بزرگ ته خطاب کول چي اې برزگ ته زماکار راوکه د شرکیه کار دی . په بسم الله کي چي کوم لفظ اسم دی دغه څخه الله مراد دی غیر الله نه دی مراد . څکه چي دغه لفظ د الله په تسبیح کي هم راغلی دی (سبح اسم ربک الاعلی) د اهل سنت والجماعة په کتابو کي د عقائد صفا لیکلي دي .
ولیس الاسم غیر المسمی الخ (بد الامالی)
کوم سړی چي دغه ته غیر الله وایي هغه د علم دین څخه بالکل جاهل معلومیږي . په دغه سړي پسي لمونځ جائز نه دی . دغسي سړی چي تر کومه وخته پوري تائب نه سي قابل د امامت نه دی . فقط . والله اعلم .

## من کنت مولاه فعلی مولاه

## څخه د خلافت بلافصل استدلال جواب:

سوال: ......بعضي شیعه ګان د حضورؐ په ارشاد چي من کنت مولاه فعلی مولاه څخه د حضرت علیؓ په خلافت باندي دلیل نیسي په دغه باره کي وضاحت وکړه چي دغه استدلال تر کومه حده درست دی؟
جواب: ......په دغه حدیث د پوهه کېدو دپاره تر ټولو دمخه دغه واقعه مکمله بیانوو .
کله چي حضور ﷺ د حجة الوداع څخه واپس راتلی نو په لاره کي حضرت بریده اسلمیؓ حضور ﷺ ته د حضرت علي شکایت وکړ، نو حضور ﷺ د مکې مکرمې او مدینې منورې په مابین کي د غدیرخم په مقام خطبه ارشاد وفرمایله او ویې ویل: زه بشر یم، ممکنه ده ژر ده چي د

پروردګار د جانبه څخه ما له قاصد راسي او ما وغواړي (مراد نږدې قریب زمانه ده) د دغه وروسته یې د اهل بیتو د محبت تاکید وکړ او د حضرت علیؓ په باره کي یې وفرمایل: من کنت مولاه فعلی مولاه. د چا چي زه دوست یم، علي هم د هغه دوست دی. د خطبې بعد حضرت عمرؓ و حضرت عليؓ ته مبارکي ورکړه او د حضرت بریده اسلميؓ زړه هم صفا سو.

ددې خطبې څخه د حضور ﷺ داور وښول مقصد وو چي حضرت عليؓ دالله محبوب او مقرب بنده دی نو دحضرت علی او داهل بیتو سره محبت کول د ایمان تقاضا ده. د حضرت عليؓ او د اهل بیتو سره نفرت کول بغض کول او عداوت دښمني کول د ایمان د تقاضا خلاف دي.

د حدیث مقصد صرف د حضرت عليؓ د محبت وجوب مراد دی امامت او خلافت څخه ددغه هیڅ تعلق نسته. دغه خبره د اهل علم حضراتو څخه څه پټه نه ده چي محبت بل شی دی او خلافت بل شی دی په محبت او خلافت کي تلازم نسته چي د چا سره چي محبت وي هغه دي خلیفه بلا فصل هم وي.

محبت خو د والدین، اولاد، او ټولو انډیوالانو سره کېدای سي نو آیا ټوله به خلیفه ګان وي. حضرت عباسؓ، حضرت فاطمهؓ، حضرت حسینؓ او حضرت حسنؓ ټوله د حضورؐ نور البصر او محبوب نظر وو، که چیري محبت دلیل د خلافت وي نو پکار ده چي حضرت حسنؓ تر ټولو اول خلیفه وای بلکه که چیري په قرب قرابت نظر وکړل سي او په قرب قرابت دارمدار وکړل سي نو ددغه لحاظ څخه نو حضرت فاطمه الزهریٰ رضی الله عنها تر ټولو مقدمه ده بیا حضرت حسنؓ بیا حضرت حسینؓ بیا

حضرت علـيؓ . ددغه لحاظه هم حضرت عليؓ څلورم خلیفه جوړیږي نو اهل سنت و حضرت علیؓ څلورم خلیفه جوړ کړی نو دوی شکوه ولي کوي .

دغه رنګه کله چي حضورؐ په غدیر خم کي خطبه وویله هغه وخت اهل بیت او صحابه کرامؓ هم موجود وو هیڅا هم د دوی څخه ددغه حدیث څه دا معنی نه واخیستـه . چي د حضورؐ څه بعد به حضرت عليؓ خلیفه بلا فصل وي . ددغه واقعې څخه دوې میاشتي بعد د آنحضرت ﷺ د وفات حسرت آیات وسو او د سقیفه بن ساعده په مقام باندي د خلافت مسئله زیر بحث راغلـه په دغه کي هغه صحابه کرامؓ موجوده وو څوک چي د غدیر خم په خطبه کي موجود وو . د دوی څخه هیڅا په دغه حدیث د حضرت عليؓ خلیفه بلا فصل باندي استدلال نه وکړی .نه حضرت عليؓ، نه حضرت عباسؓ او نه د بني هاشمو څخه چا دغه حدیث د حضرت عليؓ پر خلافت بلا فصل پېش کړ . الحمد لله تمام اهل سنت د زړه په اخلاص د اهل بیتو محبت خپل دین او ایمان بولي . مګر د شیعه ګانو په رقم داسي بې عقلانو نه یو چي د محبت دلیل د خلافت دلیل وبولو د اهل بیتو محبت پر هر فرد لازم دی نو آیا ددې مطلب دا دی چي رسول دو عالم ﷺ تمام قریبي رشته داران به خلیفه بلا فصل جوړوو . فافهم و الله اعلم .

## عبد المصطفیٰ نوم ایښول جائز نه دی:

سوال: ...... زید وایي چي عبد النبي، عبد الرسل، عبد المصطفی نوم ایښول کفر او شرک دی او د دغه په ثبوت کي بهشتي زېور، فتاوی رشیدیه وغیره پېشوي او عمرو وایي چي دغه نومونه ایښول جائز دي د

کوم يوه خبره صحيح ده؟

**جواب:** ...... مذکوره نومونه ايښـول جائز نه دي: ·

”و يؤخـذ مـن قوله و لا عبد فلان منع التسمية بعبد النبى إلى قوله و الاکثر علـى المنع خشية اعتقاد حقيقة العبودية کمالا يجوز عبد الدار “اهـ (شامية ج ٤ ص ۲۷۷) .

**په (۱۳) د صفر سفر کول:**

**سوال:** ......په شرع محمدي کي د صفر المظفر په ۱۲ تاريخ د کور څخه وتل منع دي که نه؟

**جواب:** ......ماه صفر په ۱۲ تاريخ د کوره وتـل يعني سفر کول جائز دي . والله اعلم .

د قرآن ، حديث، فقه څخه چيري داسي څه ثابت نسته چي په (۱۳) د صفري دي سفر کول ناجائز وي . و من ادعى فعليه البيان .

## د مرتد کېدو په وجه مال
## د مِلک څخه ووزي:

**سوال:** ......څه فرمايي علماء دين په دې مسٔله کي، چي زما زوی او د هغه مـاينـه دواړه قادياني (مرتد) سوي دي او د خپل قاديانيتوب اقرار هم کوي . آيـا هغـه د خپلـو وارثـانـو د مـال وارث کېدای سي ؟ دده د ښځي د کور سامان (جهېز) زما سره دی د دغه وارث څوک دی، آيا زه د خپل زوی سره په دغه حالت کي تعلق ساتلای سم که نه؟

**جواب:** ......تنبيهاً دده سره رشته مه ساته. د مرتد په حال کي دی د جائيداد وارث نه سي کېدای، د دواړو ملکيت د خپل مملوکه مال څخه زائل سوی

دی . که چیري دویم وار اسلام راوړي نو به بیرته یې اخیستی سي . که چیري معاذالله په دغه حال کي دوی مړه سي نو د دوی مال ورثاء ته منتقل کیږي .

"و یزول ملك المرتد عن ملکه زوالا موقوفاً فان اسلم عاد ملکه و ان مات او قتل علی ردته ورث کسب اسلامه وارثه المسلم"(شامیه ج ۳ ص ۳۰۰) .

## له مرزآیت څخه د توبې

## دپاره و مرزا غلام محمد ته دروغجن ویل ضروري دي:

سوال :......مسمی مشتاق احمد چې د مرزائی جماعت سره تعلق لري، هغه د پنځو سوو مسلمانانو په موجودګي کي زما په لاس مسلمان سو او هغه وویل چې څوک د نبي ﷺ څخه بعد بل څوک نبي بولي هغه لعنتي دی . لیکن هغه د مرزا قادیاني د لعنتي الفاظ نه وویل اوس د ښار خلک وایي چې مسلمان نه سو ځکه چې ده و مرزا غلام محمد قادیاني ته کافر نه وویل . صرف مدعي د نبوت ته یې لعنتي وویل حالانکه د لاهور مرزائیان وایي چې مرزا قادیاني مدعي نبوت نه وو . نو تر هغه وخته چې دی د مرزا غلام محمد قادیاني نوم نه واخلي او هغه ته کافر او لعنتي نه وایي . او د هغه پیروکار ( ملګرو ) دواړو جماعتو لاهوري او قادیاني ته کافر و نه وایي تر هغو دی نه سي مسلمان کېدای هغه تاسو ته دهوکه درکړه . اوس تاسو وفرمایي چې دا سړی مسلمان سو که نه؟

جواب : ......په صورت مسئوله کي دي د مذکوره سړي څخه صراحتاً پوښتنه وکړل سي که چیري هغه مرزا غلام محمد قادیاني او د هغه دواړه جماعتو ته اعلاناً کافر او مرتد وایي او دی د مرزائیت او له هر باطل دین

څخه توبه کوي نو باید دی مسلمان وبلل سي ، و کرنه صرف دونه ویل چي ''کوم سړی چي د نبوت دعوی وکړي زه پر هغه لعنت وایم'' دغه الفاظ پر ده د مسلمان د حکم لګولو لپاره کافي نه دي .

''و فی الخامس بهما مع التبری عن کل دین یخالف دین الاسلام بدائع و اخر کراهیة الدرر و حینئذ یستقسر من جهل حاله بل عم فی الدرر اشتراط التبری من الیهود ونصرانی ومثله فی فتاوی المصنف''(در مختار ج ۳ ص ۳۸۷) .

که چیري دغه سړی اسلام هم قبول کړي د لوړ ذکر تفصیل مطابق نو هم دي تر یوې زمانې پوري یو دیني ، اجتماعي ، انفرادي ذمه واري نه ورکول کیږي په دغه باره کي دي احتیاط اختیار کړل سي . فقط . و الله اعلم .

## د نوي مکان(سرای) په بنیادو کي د حیوان وینې اچول د هندوانو رواج دی :

**سوال :**......څه فرمایي علماء کرام په دې مسئله کي چي یو سړي سرای جوړوی نو د هغه په بنیاد کي سیرلی ذبح کړی او وینه یې په کي واچوی د دې څه حیثیت دی؟

**جواب :**......په شریعت مطهره کي د دغه امر هیڅ ثبوت نسته . دغسي کول او دغه د سرای په حفاظت موثر بلل ګناه او بد اعتقاد دی دغسي فعل د هندوانو د نظریاتو څخه ماخوذ دی . فقط . والله اعلم .

## په قبر کي سوال جواب د دې امت سره خاص دی:

**سوال :**......د مخکنیو امتو څخه په قبر کي سوال جواب کېدی که نه؟

**جواب :**......په دغه کښي د علماء اختلاف دی:

حافظ ابن قيمؒ ويلي دي چي سوال جواب عام دی ددې امت سره خاص نه دی .

”و قال ابـن القيمؒ السوال عام للامت و غيرها وليس فی الأحاديث ما يدل علی الاختصاص “(نيل الاوطار ج ٤ ص٧٧) .

علامه شامي راجح قول دا نقل کړی دی چي دغه سوال جواب ددغه امت سره خاص دی .

”و نـقـل العلقمی فی شرحه علی الجامع الصغير ان الراجح أيضا اختصاص السـوال بهـذه الامة خـلافا لـمـا استـظهره و نـقـل أيضا عن الحافظ ابن حجر العسقلانیؒ ان الذی يظهر اختصاص السوال بالمکلف و قال و تبعه عليه شيخنا الحافظ السيوطیؒ “(شامی ج ١ ص ٥٧٢ . فقط و الله اعلم .

## موهم شرک والا شعرونه صفا کول(ختمول) ضروري دي:

سوال :...... زمونږ پر مسجد دا شعرونه ليکل سوي دي:

*کرم کی مہربانی کی آس ہے ہم سب کو*

*خدا سے مصطفی غوث سے احمد رضاخان سے*

آيا دغه شعر صحيح دی که نه؟

د شـعـر معنی: د کرم (احسان ) مهرباني مونږ ټولو ته اميد دی . د خدای څخه، د مصطفی څخه ، د غوث څخه، د احمد رضا خان څخه .

جواب : ......دغـه شـعـر مـوهـم شـرک دی يـعـني وهم د شرک کي ستـه . لهذا ميټاوول (ختمول) صفا کول يې ضروري دي .

## د عملياتو په ذريعه معلومول او يو سړی مجرم بلل:

سوال:...... د غلا سوي شي د پيدا كولو دپاره بعضي خلك عمليات كوي او ور ښيي چي پلانكي غل دى . آيا شرعاً پر دغه سړي د غلا كولو حكم كولاى سو او ددغه عمليات حقيقت هم واضح كړه؟

جواب:...... ددې عملياتو په ذريعه يو څوك واقعتاً غل بلل جائز نه دى . حضرت تهانوي قدس سره ليكلي دي چي زما په نزد بالكل جائز نه دى . ددې وجهي چي عوام د حد احتياط څخه زياتيږي . (امداد الفتاوى ج ۴ ص ۸۷)

ددغه عملياتو حقيقت صرف دونه وو چي د چا نوم ور معلوم وو د هغه دي په نورو شرعي ذرائع سره تحقيق او تفتيش كړى واى ليكن چونكه عوام دغه واقعتاً غل بولي د دغه عملياتو په وجه نو ځكه دغسي عمل كول درست نه دي . فقط والله اعلم .

## د فضائل درود شريف پر يوه قصه د اعتراض جواب:

سوال:...... زموږ يو ملګري د فضائل درود شريف په حكايت نمبر ۴۶ باندي د اعتراض اظهار كړى دى . هغه دا چي ددغه حكايت څخه د حضور ﷺ د وفات بعد تك . . . كرزېدل او د هغه په غيبو خبرېدل او مشكل كشائى ثابتيږي او دغه ټولي خبري د تبليغي جماعت او نورو تمامو علمائې ديوبند د عقائدو خلاف دي نو ددې واقعې صحيح مفهوم او مطلب واضح بيان كړئ . او ددغه قسم واقعاتو په باره كي دا هم بيان كړئ چي هغه ﷺ بنفس نفيس پخپله هلته موجود وو يا د هغه د ذات يو شكل مثالي پيښيږى او ددغې واقعې د هغهٔ و ذات ته خبر هم ضروري وو كه نه؟

جواب:...... بعض اوقات حق جل شانه د خپل بنده فريادرسي د يو لطيفه غيبي په ذريعه فرمايي . هغه لطيفه غيبي هغه ته په سوي شكل كي

ظاهريږي او د بنده تكليف په اذن د الله ليري كوي . په حكايت نمبر ۴۶ كي هم ممكنه ده چي داسي دي سوي وي نو به تولو اعتراضات ساقط سي . او دا هم ممكنه ده چي روح پاک ﷺ دي متجسد كړل سوی وي او د حق سبحانه و تعالى د جانبه څخه دي استول سوى وي حضور ﷺ په شب معراج چي د انبياء عليهم السلام سره په مختلف مقاماتو كي زيارت وكړى ددغه داسي توجيهه كړل سوې ده . فقط والله اعلم .

## په جادو كي څه شی مؤثر وي:

**سوال:** ......۱ . جادو څه شی دی؟ ۲ . آيا د جادو په ذريعه و يو شي ته حركت وركول كېدای سي؟ ۳ . نيز په جادو پسي كوم طاقت كارفرما دی؟

**جواب:** ......۱ . د جادو تعريف په كتابو كي دا ليكلی دی: هو علم يستفاد منه حصول ملكة نفسانية يقتدر بها على افعال غريبة لاسباب خفية اهـ (شامي)

معنا: .

۲ . هوا حركت وركول كېدای سي، خو حركت واقعي وي يا تخييل محض وي .

۳ . اسباب خفيه: لكه چي د تعريف څخه معلوميږي په نورو شيانو كي د حركت سبب ظاهر وي ليكن د جادو حركت په اسباب خفيه وي چي موږ يې نه وينو . فقط . و الله اعلم .

## د شپږو كلمو په معنا اعتقاد كافي دی يادول يې ضروري نه دي:

سوال :...... د شپږو کلمو په الفاظو کې لږ اختلاف دی نيز دغه کلمې يادول ضروري دي يا صرف اعتقاد پر کول کافي دی؟

جواب :...... کلمات اسلام مثلاً : کلمه طيبه، کلمه شهادت، کلمه تمجيد و توحيد وغيره باندې عقيده درلودل بهر صورت ضروري دي او دغه کلمې ويل موجب برکت او ثواب دي . يو وار ويل علیٰ سبيل الاقرار ويل فرض دي . تا چې کوم الفاظ ياد کړي دي او کوم چې په موجوده لمنځو کې ديو څه اختلاف سره موجود دي هغه اختلاف داسې اختلاف نه دی چې د هغه څخه دې معنی بدله سي يا دې د هغه مخالف يعنې الټ سي داسې نه ده لهذا ستا چې کوم الفاظ ياد هغه وايه . فقط والله اعلم

## دحضرات حسنين رضی الله

## تعالی عنهما له نومونو سره لفظ امام استعمالول:

سوال :......څه فرمايي علماء کرام مفتيان شرع متين په دې مسئله کې چې د حضرات حسنين رضی الله تعالی عنهما له نومونو سره د لفظ امام استعمالول څنګه دي آياجائز دي که نه؟

جواب :...... د امام معنی ده "پيشوا، مقتدا" او أهل السنة والجماعة په دغه معنی ټولو صحابه کرام عليهم الرضوان بلکه بعض تابعين امام بولي او امام ورته وايي ليکن د شيعه ګانو په اصطلا ح کې امام، عالم الغيب او معصوم عن الخطاء ته وايي، په دغه معنی و هيڅ صحابي ته امام ويل ذرست نه دي . چيرې چې د حضراتو حسنين رضی الله تعالی عنهما د اسماء ګرامې سره لفظ امام استعمالول په دغه عقيده وي نو هلته د دوی د نومونو سره د امام لفظ د استعمالولو څخه دې احتراز وکړل سي .

فقط والله اعلم .

## الله رسول دي ستا خير وکړي، ويلو په باره کي:

سوال : ...... زموږ په علاقه کي رواج دی چي کله سړی د بله څخه د حال احوال پوښتنه کوي نو د احوال کولو والا په آخر کي ورته وايي چي نور خير دی هغه بل په جواب کي ورته وايي چي الله رسول دي ستا خير وکړي . آيا دغه جمله ويل صحيح ده که نه؟

جواب : ...... دغه جمله کي د شرک وهم سته لهذا دغه جمله دي نه وويل سي يعني مه يې واياست . قادر على الخير على الاطلاق الله رب العزت دی . فقط والله اعلم .

## د آنحضرت ﷺ د ازواج پر بعداد د اعتراض حکم:

سوال : ......زيد د بکر په مخ کي دا وويل چي دا د کوم ځای اصول دي چي باچا چي وغواړي هغومره ودونه دي وکړي او د قوم عوام دي د څلورو ودونو پابندوي . دغه قول زيد د حضور اقدس ﷺ د ذات اقدس په باره کي ويلی دی .

۱ . زيد په دغه قول د اسلام څخه خارج دی که نه؟

۲ . د زيد نکاح باقي ده که نه؟

۳ . که چيري نکاح باقي نه وي نو د ده پر ښځي عده سته که نه؟

۴: په ده پسي اقتداء جائز ده که نه ؟

جواب : ......د څو ضروري حکمتو او مصلحتو پر بنا و آنحضرت ﷺ ته د متعدد ازواجو اجازت ورکول سوی وو چي هغه تعدد ازواج څخه پوره کيدای سو . ديو امتي څخه نه هغه حمکتونه مطلوب دي نه هغه

حكمتونه ديو امتي حخه پوره كېداى سي .

زيد لره پكار ده چي توبه او استغفار وكړي او د خپل ايمان اونكاح تجديد دي وكړي . كه زيد اسي ونه كړي نو خلك دي په دې پسي لمونځ نه كوي .

## يا الله يا محمدً د ليكلو حكم:

سوال :......څه فرمايي علماء كرام په دې مسئله كي چي د مسجد پر دېوالو باندي يا الله يا محمدً ليكل جائز دي يا لازماً الله محمد ليكل ضروري دي . كه چيري صرف الله محمدً وليكل سي نو آيا دغه شرعاً ناجائز او ګناه ده كه نه؟ او آيا صرف الله او محمدً د ليكلو والا باندي ګستاخ رسول او وهابي او په دغه پسي د لمونځ نه كېدو فتوى لګولاى سو كه نه؟

جواب :......په شريعت كي نه خو د الله ، محمد او نه د يا الله يا محمدً د ليكلو حكم ستـه . يعني په شريعت كي هيڅ ځاى داسي حكم نسته چي دغه الفاظ دي پر مساجدو ضرور وليكل سي ليكن داسي ممنوع هم نه دي .

لهذا كتل دا پكار دي چي د كومو تورو د ليكلو څخه يو بل مفسد لازم نه راځي او هغه جائز دي او يا الله يا محمدً چونكه عام د اهل بدعت پر خپلو مساجدو ليكي او لفظ "يا" څخه د دغه عقيدې اظهار مقصود وي چي د حق تعالى جل شانه په شان آنحضرت ﷺ ذات ګرامي هم هر ځاى موجود دى او دغه عقيده غلط محض ده او باطله ده . لهذا ددغو الفاظو ليكل جائز نه دي .

كه چيري د چا دغه عقيده هم نه وي بيا هم لكه څنګه چي د شرك څخه ځان بچاوول ضروري دي . دغه رنګه د شائبه شرك څخه هم ځان ساتل

ضروري دي . لهذا چي كوم الفاظ موهم شرک دي د هغه څخه اجتناب واجب دی .

(ب) ناجائز نه دی .

(ج) پر دغسي كولو والاباندي د كفر فتوی لګول تعصب، كم عقلي او د جهالت علامت دی . فقط و الله اعلم .

## زما مرشد (پیر) بمنزله خدای او رسول دی:

**سوال:**...... څه فرمايي علماء كرام ددې مسئلې په باره كي چي زما ديو سړي سره "زما مرشد" په باره كي بحث وسو . پر يوه خبره هغه په غصه كي راغلی او ويې ويل چي نعوذ بالله زما مرشد په منزله د الله او د رسول دی . فوراً توبه يې هم وكړه . مخالفين چا چي ديوه كاله زما ماينه ما ته په لاس نه راكوله شور ئې جوړ كړی چي (د الله دِتـه) (ديو سړي نوم دی) نكاح ماته سوه ده ته د ماينې نكاح ماته سوه آيا دغه صحيح ده كه نه؟

**تنقيح:**

زما مرشد زما دپاره په منزله د خدای او رسول دی ددغه څه مراد دی يعني په يوه معامله كي زما مرشد زما په نزد د خدای او رسول په مانند دی . هر څه چي دي مراد وي مطلب يې وليكه راواستوه .

**جواب:**...... شرائع د اوامرو او نواهي بعد د مرشد امر زما په نزد د خدای او رسول په رقم دی .

دغه كلمه په ظاهره ډېره سخته متوحشه ده . ليكن د دې تاويله بعد موجب كفر نه ده .

لهذا د سائل پر ښځه شرعا طلاق واقع نه سو او ماينه پر حرامه هم نه

سوه . او لازمه ده چې سائل آئنده د دغسې کلماتو ویلو څخه احتراز وکړي . فقط .

## د مومن عزت تر کعبه زیات دی:

**سوال:** ......آیا د الله جل شانه په نزد د مومن شان او عزت تر کعبة الله زیات دی ؟ آیا حضورؐ هم په دغه کي شامل دی؟

**جواب:** ...... د ابن حضرت عمر رضی الله عنه څخه موقوفاً منقول دي چې د مومن حرمت د الله تعالی په نزد تر کعبه معظمه زیات دی .

**"وعن ابن عمر رضی الله عنهما انه نظر یوماً إلى الكعبة فقال ماأعظمك و ما اعظم حرمتك والمؤمن اعظم حرمة عند الله منك رواه الترمذی و ابن حبان فی صحیحه"(الترغيب والترهيب ج ۳ ص ۱۷۷) .**

## آغا خاني کافر دی؟

**سوال:** ...... زموږ په علاقه چترال او د هغې څخه علاوه په ګلګت او کراچي او نورو علاقو کي د اسماعیلي (آغا خاني) فرقې سره تعلق لرونکو خلکو کافي تعداد موجود دی . چي و خپل ځان ته مسلمان وايي مګر د هغوی عقائد او نظریات لاندیني دي:

۱﴾ ...... اشهد ان لا اله إلّا الله و اشهد ان محمدًا رسول الله و اشهد ان امیر المؤمنین علی الله .

۲﴾ ......امام: دغه خلک آغاخان خپل امام بولي او هغه د جمله اشیاء او هر نیک او بد مالک بولي او د هغه و اقوالو او احکاماتو ته د "فرمان" نوم ورکوي او د هغه فرمان منل تر ټولو لوی فرض بولي .

۳﴾ ......شریعت: د ظاهري شرعي پابندي نه کوي بلکه آغا خان قرآن ناطق،

کعبه، بیت المعمور مڼي .د دوی په کتابو کي لیکلي دي: چي په دغه ظاهري قرآن کي چي چیري د الله نوم راځي د هغه څخه مراد امام زمان آغا خان دی .

۴﴾ ...... لمونځ: د پنجګانه لمانځه څخه منکر دي . د لمانځه پر ځای د درو وختو دعاوو قائل دي .

۵﴾ ...... مسجد: د مسجد پر ځای د ''جماعت خانه'' په نامه د ځان دپاره مخصوص عبادت خانه جوړوي .

٦﴾ ...... زکوة: شرعي زکوة نه مني . د زکوة پر ځای دخپل هر قسم مال څخه لسمه حصه مال واجبات (دشنوند) په نامه د آغا خان په نامه ورکوي .

۷﴾ ...... روژه: د رمضان المبارک د روژې منکر دي .

۸﴾ ...... حج: د حج بیت الله منکر دي د حج پر ځای د آغان و دیدار ته حج وایي .

۹﴾ ...... سلام: د السلام علیکم پر ځای د دوی مخصوص سلام '' یا علي مدد'' دی .

۱۰﴾ ...... جواب سلام: د وعلیکم السلام پرځای د یا علي مدد په جواب کي هغه ''مولیٰ علی مدد'' وایي .

اوس سوال دا دی چي د مذکوره عقائدو درلودلو باوجود دوی د مسلمان ویلو مستحق دي که نه؟

جواب: ...... مشهور آغا خاني فرقه کافر او خارج از اسلام ده . ددې سره له دوی سره د مسلمان غوندي چلن هیڅ کله نه کول کیږي . د دوی سره

نکاح کول صحیح نه ده، نه دي دوی د مسلمانانو په قبرستان کي ښخیږي
. د دوی د بعضو کفریاتو په سوال کي هم تصریح ستـه . مثلا لفظ
"الله" څخه امام اخیستل او صلوة خسمه زکوة، روژه او د حج انکار کول
دغه امور بلا شبه د کفر دي .
د مزید تفصیل دپاره وګورئ حضرت اقدس حکیم الامت حضرت
تهانوي قدس سره رساله"الحکم الحقاني فی الحزب الآغاخاني . (جواهر
الفقه ج ۱ ص ٦۴ )

**سماع موتیٰ:**

**سوال:**...... سماعِ موتیٰ عادت دی یا کرامت؟

**جواب:**...... د اکابرو د بعضو عبارتو څخه معلومیږي چي په کومو ځایو
کي سماع موتی ثابته ده دا بطور خرق عادت ده لیکن تحقیق دا دی چي
نفسي سماع موتی ګوا کي خرق عادت ده . (ځکه چي په مړه کي حیات
بظاهره معدوم دی، ثانیا په قبر کي بقاء حیات غیر معقول دی، ثالثاً د
مشاهدې خلاف دی، رابعًا بوجه حجابات کثیفه آواز ورسېدل متعذر دی)
لیکن په څو مواضعو مخصوصه کي الله تعالی جل شانه دغه عادت
جوړ کړی دی د جعلِ خداوندي وروسته اوس دغه یو عادت دی بطور
معجزه یاکرامت نه دی . چي مړی دي ولی الله خبره واوري او د عوامو دي
نه اوري . سماع په دغه مواضعو کي مطرد ( ) ده" لقوله علیه السلام ما
من أحد یمر بقبر اخیه المؤمن یعرفه فی الدنیا فیسلم علیه إلّا عرفه وردّ علیه
السلام " (اخرجه البیهقی فی الشعب کذا فی فتح الملهم ص ۵۰۸) .
۲۔" و روی الحافظ ابونعیم فاذا حمل علی النعش فانه یسمع کلام من

تكلم بخير اوتكلم بشر" اهـ (كذا فى التذكرة ص ١٩) .

ددغـه تـائيـد ددې څـخـه هم كيږي چې په كومو ځايو كې سماع ثابته ده كـه چيـري دغـه سمـاع بطور عادت نه ومنل سي نو د هغه ځايو تخصيص بـه لـغـوه سـي . ځكه چې بطور خرق عادت و كرامت ددغه مواضعو بغير حـق جل شانه هم پر ور اوږولو باندې قادر دى . كه چيري وجه د تخصيص وې نـو داغـه ده . چـې يو ځاى كې يې يو قسم سماع مطرد ( ) جوړه كړې ده او په دويم ځاى كې نه . د شمول قدرت په لحاظ دواړه قسمونه برابر دي .

"قال ابن القيم :۔ الأحاديث والآثار تدل على ان الزائر متى جاء علم به الـمزار و سـمـع كـلامهم وانس به ورد سلامه عليه و هذا تمام فى حق الشهداء وغيرهم وانه لا توقيف فى ذلك"(شرح الصدور ص ٩٤) .

## د روى زمين و علماؤ ته كافر ، مرتد ويلو والا كافر دى:

سوال :......يـو سړي محمد ادريس له مولوي صاحب سره تيزي تيزي خبري كـولې او و يې ويل چې دغه مولوي كافر او مرتد سوى دى اودغـه د مځكې د مـخ عـلـمـاء (نعوذ بالله) كافر او مرتد سوي دي آيا دغه شخص مسلمان پاته كيږي؟ د ده سره ملاوېدل او د ده سره تګ را تګ روا دى كه نه؟

جواب :...... مـذكـوره سـړى دي فـورًا تـوبـه او تجديد د ايمان اعلان وكړي تر څـه وختـه چې دى داسې نـه وكـړي تـر هغو دي د ده سره تعلقات نه وساتل سي او مزيد دي دغه سړى د مولوي صاحب څخه معافي هم واخلي:

"عـن ابـن عـمرؓ قال قال رسول اللهﷺ ايما رجل قال لا خيه كافر فقد باء بها أحدهما (متفق عليه ) عن أبى ذرؓ قال قال رسول اللهﷺ لا يرمى رجل رجلًا بالفسوق ولا يرميه بالكفر إلا ارتد عليه ان لم يكن صاحبه كذلك " اهـ

(رواه البخارى) .

## زه دا نه كوم كه څه هم جبريل آمين راسي و ماته ووايي، د ويلو حكم:

سوال :......څه فرمايي علماء كرام په دې مسئله كې، چې زيد چې يو عالم دى . پخپله كورنى جګړه كې يې تعليق بالمحال طور باندې وويل چې زه د خپلې مور مرحومې هغه فيصله چې هغې په ژوند كې كړې وه، اوس زه و هيڅ ثالثي مجلس ته سپارلو ته تيار نه يم . كه څه هم ډېر لوى سړى ما ته ووايي كه څه هم جبريل آمين راسي را ته ووايي، اوس آيا ددغسې الفاظو ويلو والا كافر دى كه نه؟ او د دائره اسلام څخه خارج دى كه نه . خصوصاً اوس دى ددې خبرې صراحت كوي چې زما د حضرت جبريل استخفاف يا توهين مراد نه وو؟

جواب : ......په صورت مسئوله كې هيڅ خبره كفريه نسته خصوصا دا وخت چې متكلم په خپله د خپلې منشاء مراد صراحت كوي چې زما مراد د حضرت جبريلؑ استخفاف يا توهين نه وو او دا الفاظ چې جبريلؑ راسي او راته ووايي دا جمله ذو معاني كثيره ده . د دغې حيثيت زيات ترزيات د سفارش يا تعليق بالمحال دى او تعليق د محال پخپله مستلزم محال دى . لهذا متكلم كافر نه سو . اوس متكلم خامخا د استخفاف او توهين مرتكب قرارول (بلل) او ورنه كافر ويل د ﴿ فَأَمَّا الَّذِينَ فِى قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ ﴾ په مصداق به وي .

## تلاوت افضله دى كه درود پاك استول:

سوال :......دعبادت په وخت د قرآن مجيد تلاوت افضل دى يا پر آنحضرت

ﷺ باندي درود ويل؟

جواب :......په تمامو اذكارو كي د قرآن مجيد تلاوت افضل دی البته په كومواوقاتو كي چي لمونځ كول مكروه دی مثال لكه د سهار د لمانځه بعد څخه تر طلوع شمس پوري په داسي وختو كي تسبيح، دعاء او درود پاک ويل تر تلاوت افضل دي:

"القرآن أفضل الاذكار لانه كلام الله تعالى كما فى الحصن الحصين لكن فى الاوقات التى يكره الصلوة فيها كما بعد صلاة الصبح إلى طلوع الشمس بالتسبيح والدعاء والصلوة على النبى ﷺ فيها أفضل من قرأة القرآن و كان ا لسلف يسبحون فى ذلك الوقت و لا يقرء ون"(نفع المفتى ص ۵۲) .

## په ذريعه دفلم تبليغ دقرآن توهين د قرآن دی:

سوال :......څه فرمايي علماء كرام، حاميان شرع متين په دې باره كي چي پر قرآني قصصو باندي فلم جوړول جائز دی كه نه؟

۱﴾ ...... او د دغه په تې وي نمائش جائز دی كه نه؟

۲﴾ ...... و دې ته تبليغ قرآن ويل كيږي كه نه؟ بينوا توجروا .

جواب :......د فلم سازي مراكز عموماً د فحاشي اډې وي، د دغه صنعت سره كار كولو والا چي د كوم كردار مالكان وي هغه پر چا مخفي نه دي . په ملک كي بد اخلاقي له دې ځايه بر آمد كيږي او دغه مراكز د هر قسم باجې گاجې مراكز دي چي د هغه د ختمولو دپاره د حضورؐ بعثت سوی وو . ارشاد نبويؐ دی: بعثت لكسر المزامير : ترجمه: زه د بانسرۍ (آلات موسيقي) دماتولو دپاره راستول سوی يم .

و فى رواية ان الله ......... امرنى لمحق المزامير والاوتار والصليب و

امر الجاهلية .

تـرجـمـه: الله تعالى ما ته حكم راكړى دى چي بانسرى، طنبور، صليب او امور جاهليت ختم كړم .

د فلم سازي دپاره قرآن مجيد داسي مقاماتو ته او دداسي كردار حاملين ته حواله كول د قرآني عظمت او تقدس بالكل خلاف دى .

ارشاد خداوندي دى: (لا يمسه إلّا المطهرون)

ترجمه: دغه دي هغه څوک مسه كوي څوک چي پاک وي .

بل ځاى ارشاد دى: (بأيدى سفرة كرام بررة) .

تـرجـمـه: دغـه (قـرآن مـجـيـد) دنېک بخت ليكلو والا وو په لاسو كي ووسي . . . .

د تبليغ قرآن كريم اهل پاكباز، فرشته سيرت، معزز او نېک كار انسانان وي نه فساق و فجار .

د حضرت عمرؓ خور د قرآن مجيد اوراقي تر هغه وخته وخپل ورور ته حواله نه كړې ترڅه وخته پوري چي هغوى غسل نه وكړى او د قبول اسلام رغبت به نه كړي ښكاره . (سيرت ابن هشام بر حاشيه زاد المعارج ج ۱ ص ۱۸۷)

۲﴾......د قصص قرآنيه فلم سازي يوه فتنه ده او دغسي فتنې د يهودو او نصارى و په نقالي كي د يورپ څخه در آمد كيږي د اسلام او قرآن په نامه په مسلمانه معاشره خپرېږي . يهود او نصارى ؤ د انبياء عليهم السلام پر ژوند فلمونه جوړ كړل د هغوى په اتباع كي د اسلام يوڅه نادان دوستان هم قصص القرآن د هغو فلمو جوړونكو پر لار راونېدل غواړي . حالانكه

قـرآن پـاک او نبي کـريـم ﷺ د ګمراه مغضوب عليهم د اتباع څخه په سختي سر ه منعه کړې ده .

پــه قـرآن کـريـم کـې دي: ﴿وَلَا تَرْكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ﴾ (الاية)

پـه آيت کريمه کي د يهودو او نصارىٰ و طرفته پر صرف ميلا ن قلبي باندي هم د نار جهنم وعيد ويل سوی دی .

په حديث پاک کي راغلي دي:

"لتتبعن سنن من قبلكم شبراً بشبر ذراعا بذراع حتى لودخلوا جحر ضبّ بتعتموهم"(بخاری ، مسلم ، مشکوة ج ۲ ص ٤٥٨) .

البتـه ضـرور بـه تـاسي ستـاسـو څـخـه مختـه خلګو پر طريقو به ځي . بـالشت ، بالشت ، لا س لاس حتى که چيري هغه د ګوه په کي داخل سي په دغه کي به تاسي هم د هغوپيروي کوئ .

ترجمه ګوه: چرمبنکی غوندي حيوا ن دی سمساره هم ورتهٔ وايي .

د قـرآن او حـديث واضـح ممانعت او تحذير باوجود بيا هم موږ د يهودو نصری وو جوړ کړي مهلکو غارو ته ننوځو او د فتنو ښکار کيږو .

۳﴾ ......د دغسـي فتنو ابتداء چي هر څومره حسينه او پاکيزه وي انجام يې د ګمـراهي څخه سوا بل هيڅ نه وي . غور وکړئ! قصه خواني د قرآن کريم اصـل مـقـصـدو څـخـه نـه دی قـرآن کريم د موقع او مقام په مناسبت حسب ضـرورت قصص او واقعات څخه مختصراً تعرض کوي ، و دې واقعاتو ته باقـاعـده د قـصـې شـکـل ورکـولـو دپاره د تفسيري ماخذ او اسرائيلياتو و طرفتـه رجـوع کـول بـه وي . بيا به د دغه ماخذ څخه داسي مواد را ټولولو

کیږي چې هغه زیات تر زیات عوامو ته جذبه ورکولو والا وي . او هغو ته زیات تر زیات ذهني عیاشي فراهمه کړي . ګواکي د دلائلو په اعتبار دغه مواد چې هر څونه غیر مستند وي هم د دوی په نزد قابل اعتبار دی .

موږ د دغو قصو کونکو د مصنفینو په کتابو کي دغه صورت حال وینو . ګواکي دغه هیڅ مضر نه دي ځکه چې ددوی مخاطب قارئین او عوام نه دي بلکه خواص دي .

فلم چې د هغه موضوع هم لهب لعب ده . د دغه رنګه بې احتیاطي څخه څنګه مبراء کېدای سي . او بیا د قصې بیانولو والا ذهنیت مکمل پر قصه اثر اندازه کیږي . هغه چې په څه رنګ کي وغواړي دغه قصه په هغه رنګ کي اچوی سي . دیوې واقعې په اول او آخر کي زهرجني جملې ویلای سي چې د هغه څخه د واقعې قرآني مقصد بالکل ختمدای سي .

عیسایي او یهودي مستشرقینو اول د ریسرچ په نامه اسلامي تاریخ مسخه کړی . . . . پر قرآني حقائقو او تعلیماتو باندي د فلمسازي پر پرده لاس صفا کړی د تحقیق کولو وروسته به ضرور معلوم سي چې ددغه سازش شا ته هم د صیهونیت سازش کارفرما دی .

موږ چې په لوړو لیکو کي د کومو خدشاتو اظهار کړی دی دغه محض خدشات او اندېښې نه دي بلکه په یورپ کي دغه ټوله سوي دي .

پر حضراتو انبیاء کرام علیهم السلام باندي فلمونه جوړ سوي دي . دغه مقدسي هستیاني د روماني قصو د هیروګانو په حیثیت پېش کړل سوي دي . د بائیبل قصې په عشقیه مضامینو او روماني رنګ کي مکمله اچول سوي دي . د لیدو والا دا نه سي محسوسوای چې دا یو

مـقـدسـه قـصـه ده يا په سينماوو كي ورښكاره كولو والا يو عام فلم دى . ددغسـي فلموپه ذريعه و ليدونكو ته هدايت نصيب سي دا يو محض خام خيـال دى . هدايت د كهيـل تماشو دلاري نه راځي بلكه هدايت د الله والاوو د فيـض صـحبت او د هغـو د تعليم تبليغ په ذريعه تقسيميږي . مخلوق خدا طلب كوي او هغوى ته ځي نو هدايت پيدا كوي .د عهد نبوي څخه بيا تـر اوسه د هدايت د خورولو دغه طريقه را روانه ده په تاريخ اسلام كي هيڅ داسي نظير موجود نسته چي يو قوم يا قبيله دي په ګناه كي ښچلي تبليغ څـخه دي مسلمان سوي وي . يا دي د فسق فجور څخه تائب سوي وي . دا بالكل مبني بر حقيقت ده . حضرت امام مالکؒ فرمايي ”لا يصلح آخر هذه الامة إلّا بـمـا صـلـح بـه اولهـا“ . بـل هيڅ فلم د ښځو او د نرو له تصاويرو څـخـه خالـي نـه وي . ساز او آواز د هـغـه دپاره هم لازم وي او دغه شريعت مطهره حرام بللي دي .

احـكـام الٰهي مـاتـول، مـحـرمات شرعيه ارتكاب كول و دغه ته د تبليغ دعوت نوم وركول و غضب الهى ته دعوت وركول دي .

د ټي وي او سينـمـا كتـونكو اكثريت بلا شبه دغه پروګرامونه دتفريح كهيـل، تـمـاشي په غرض ګوري لهذا كه چيري داوويل سي چي د قصص قـرآنـي فلم سازي او پرده سكرين باندي د هغه نمائش د قرآن كريم د كهيـل او تـمـاشـه جوړولـو مترادف او برابر دي نو په دغه كي به څه بُعد نه وي او قـرآن كـريـم د لهـب لـعـب كهيـل او تـمـاشـه جوړولو والا انجام د چا څخـه مخفي نه دى .

بـعـض نـام نهاد دانشوروانو د خوا څخه ويل كيږي چي پر ټي وي باندي

ددغـه قسـمـو فـلـمـونو نمایش د قرآن تبلیغ دی او وایي چي د قرآن پاک پر تبلیغ او پر دیني مسایلو د علماء کرامو اجاره داري ختمېدل په کار دي . دمخه هم دغسي خبري په اخبارو کي چاپېدلي ددغه دانشورانو پر دانش او د چاپونکو پر بې حسي باندي مي تعجب کیږي چي دا خلک څنګه بې مهاره شړل کیږي . چي تبلیغ او دیني مسائلو څخه دي د علماؤ اجاره داري ختم کړل سي . که چیري د علماؤ په باره کي د دوی دانش دغه فیصله وي نو پر سائنس د سائنسدانانو اجاره داري او پر قانون ، په متعلق د امورو د وکلاؤ او ماهرین قانون اجاره داري ، او پر علاج معالجه د ډاکټرانو اجارداري او پر تعلیم د اساتذه وو ، لیکچرارانو ، پروفېسرانو اجاره داري په باره کي به ددغه د دانش څه فیصله وي؟ که چیري دغه اجاره داریاني نه سي ختمېدای نو د امور دینیه په باره کي د ماهرین علوم شرعیه دغه حیثیت د دوی دپاره سوځونکي د روح ولی جوړیږي .

اصلي خبره دا ده چي سائنسدان ، ډاکټر ، پروفېسر ، وکیل د یو خاص قوم یا خاندان نومونه نه دي بلکه متعلقه فن ویلو والا د هغه مهارت حاصلولو والا د هغه په حاصلولو باندي کلونه تېروي او په کلو کلو خپل ذهني او جسماني صلاحیتونه صرف کولو څخه بعد سند مهارت حاصلونکو ته دغه القاب میلاویږي لهذا په دې کي د اجاره داري بحث دعقل او دانش سراسر خلاف کار دی اصل مسئله په دغه فن کي د مهارت ده ، کوم سړی چي دغه مهارت او استعداد حاصل کړي و هغه ته په دغه فن کي دا مقام حاصلیږي . او ددغه فن په متعلق دده رایه مستنده او قابل قبول تصور کیږي ، او د هغه و رایې ته اعتبار نه وي څوک چي ددغه فن

ماهر نه وي .
بالكل دغسي وبوله د علماؤ معزز لقب چې د خاص خاندان يا قبيلې سره مختص نه دى بلكه علوم شرعيه (قرآن و حديث وغيره) پر تحصيل باندې عمر ختمولو بعد دغه معزز مقام حاصليږي نو په امور شرعيه كې د علماؤ حضراتو فيصله مستنده او حجت وي نه د هر چا . گوا كې هغه دې په بل فن كې يو لويه ډگري يافته هم نه وي لكه چې د علاج معالجې په تشخيص كې ډاكټري رپورټ قابل قبول اتهارټي ده ديو انجينئر يا سائنسدان رايه ته په دغه كې هيڅ اعتبار نسته او نه د دوى په رايه ډاكټري رپورټ چيلنج كېداى سي .
الغرض اصل بحث د ماهر فن دى چې د اقوامو په عرف او آئين كې مُسَلّم دى . دغه اجاره دار بلل سراسر بې دانشي ده .
الحاصل د وجوه بالا پر بناء داسي فلمونه تيارول او پر تې وي د هغه نمايش كول شرعًا درست نه دي .

## پر وقفِ لازم وقف ، وقف لازم نه دى:

سوال :......څه فرمايي علماء كرام په دې مسئله كې چې په قرآن كريم كې له كومو آياتو سره چې وقف لازم ليكلى دى هلته درېدل ضروري دي كه نه ؟ كه چيري سړى نه ودريږي او مخته آيت ورسره ملاو كړي نو جائز به وي كه گناه؟

۲ .آيا د قرأت او تجويد پر قاعده و قاري ته داحق حاصل دى چې هغه دي پخپله مرضي سره چې پر كوم آيت وغواړي ودريږي او كه غواړي نه دي دريږي ، كه څه هم آيت مكمل وي يا وقف لازم يا نه وي؟

جواب: ...... چيري چي وقف لازم ليکلى وي هغه لازم بمعنى وجوب يا فرضيت نه دى بلکه بمعنى استحسان مراددى . لهذا وقف نه کولو باندي ګناه نسته او که د وصل څخه معنى مشتبه کيږي نو وقف دي لازم بمعنى ضروري وبلل سي .

## خارج نماز د تلاوت اورېدل واجب نه دي:

سوال: ...... مشهوره ده چي د قرآن مجيد تلاوت سنت دى او اورېدل يې فرض دي دغه د سمجهـ څخه بالاتر ده چي په يو خاص وخت کي دغه حکم دى که په عامو حالاتو کي هم دغه حکم دى؟

جواب: ......خارج الصلوة په سماع القرآن کي دوه قوله دي: يو هغه مشهوره قول دى چي د قرآن اورېدل واجب دي ليکن حضرت تهانوي قدس سره په امداد الفتاو ج ۴ ص ۵۹ کي ليکلي دي چي زه د آساني دپاره دا اختياروم کني خارج الصلوة اورېدل دقرآن مستحب دي لهذا اشکال نه سو پاته .

## د قرآن حکيم وخواته شاګرزول:

سوال: ......په کمرو کي د طلباؤ دتعداد د زيات والي د وجهي دقرآن مجيد د ويلو په وخت کي طلباء يو دبل و شا ته کښېنول ضروري وي چي د هغه د وجهي د طلباؤ شا و قرآن مجيد ته کيږي او د سبقه په دوران کي و طلباؤ ته حدث (بې اودسي) پېښېږي که بار بار د طلباؤ اودسو ته ولاړو نو په سبق کي نقصان راځي لهذا شرعاً د دغه دواړو مسئلو وضاحت وکړئ؟

جواب: ...... که د طلباؤ تعداد زيات وي نو د مېز پر هغه بل طرف دي تختې

ولـکـول سـي دپـاره ددې چـي حـائـل يـا فصل جوړ سي او براه راست و قرآن مجيد ته شا نه وي .

پـه نابالغ طلباؤ يو وار اودس کول کافي دي . بالغ طلباء دي بغير اوداسه لاس نه لکوي . البته ويلاى يې سي .

”و يکره مـس صبى لـمصحف ولـوح و لا بـأس بدفعه إليه و طلبه منه للضرورة“(شامي ج ۱ ص ۱۶۳) .

## په کوم کور کي چي قرآن وي په هغه کي جماعي کول:

**سوال:** ...... زموږ پـه عـلاقـه کـي مشهـوره ده چي پـه کور کي قرآن مجيد ايښـول فـرض عيـن دى نو په کومه کمره کي چي قرآن مجيد پروت وي په هغه کمره کي همبسترى (جماعي) کول درست دي که نه؟

**جواب:** ......کـه چيـري قـرآن مـجيد په کپړه (پوښ) کي پېچل سوى وي پر لوړ ځاى پروت وي نو هغه کمره کي جماع کول هيڅ حرج نه لري .

”يجوز قربان المرأة فى بيت فيه مصحف مستور اهـ“ . (عالمگيري ج ۴ ص ۹۴)

## دوران تلاوت د انحضرتﷺ پر نوم باندي د درود ويلو حکم:

**سوال:** ......کـه چيـري دوران تـلاوت د آنـحـضـرت ﷺ اسم گرامي راسي نو درود شـريف دي وويـل سي مختـه دي نور تلاوت وکړل سي که دي تلاوت بس کړل سي؟

**جواب:** ...... افـضـلـه دا ده چـي د قـرآن حـکـيـم تلاوت دي په دغه ترتيب سره جـاري وسـاتـل سي . کله چي د تلاوت څخه فارغ سي بيا دي درود شريف

وو ايي .

"ولو قرأ القرآن فمرّ على اسم النبیﷺ فقرأة القرآن على تأليفه و نظمه أفضل من الصلوة على النبیﷺ فی ذلك الوقت فان فرغ ففعل فهو أفضل و إلا فلا شيئ عليه ـ اهـ"(شامی ج ۱ ص ۳٤۸) .

## آيا شيطان قرآن ويلای سي:

سوال: ......په خلكو كي مشهوره ده چي قرآن پاک خلاص مه پرېږده كه خلاص پاته سي شيطان يې وايي آيا دغه خبره درسته صحيح ده؟

جواب: ...... دنصوصو څخه دغه معلوميږي چي شيطان قرآن مجيد نه سي ويلای . البته مومن (جن) پېری قرآن مجيد وايي .

"سئل ابن الصلاح عن رجل يقول الشيطان يقدر ان يقرأ القرآن و يصلی هو و جنوده ، فاجاب ظاهر المنقول ينفی قرائتهم القرآن وقوعا و يلزم منه انتفاء الصلوة منهم إذا فيها قرأة القرآن و قد ورد ان الملائكة لم يعطوا فضيلة قرأة القرآن و هی حريصه على ذالك و على استماعه من الارض فاذن قرأة القرآن كرامة اكرمه الله بها الانس غير ان المؤمنين من الجن بلغنا انهم يقرؤنه اهـ"(لقط المرجان فی اخبار الجان للامام جلال الدين السيوطیؒ) .

## د تلاوت په دوران اذان شروع سي:

سوال: ......كه چيري يو سړي تلاوت كوي . په مابين كي اذان شروع سي نو تلاوت جاري ساتل بهتر دی كه تلاوت بندول او د اذان جواب وركول بهتر دی؟

جواب: ......بهتره دا ده چي تلاوت دي بند كړل سي او دآذان جواب دي وركول سي . (كذا فی الشامی ج ۱ ص ۲۷۱)

